DOCUMENT RESUME

ED 353 813 FL 020 894

AUTHOR	Tegey, Habibullah; Robson, Barbara
TITLE	Pashto Reader Originals.
INSTITUTION	Center for Applied Linguistics, Washington, D.C.
SPONS AGENCY	Office of International Education (ED), Washington, DC.
PUB DATE	92
CONTRACT	P017A10030
NOTE	86p.; For related documents, see FL 020 895-896.
PUB TYPE	Guides - Classroom Use - Instructional Materials (For Learner) (051)
LANGUAGE	Pashto
EDRS PRICE	MF01/PC04 Plus Postage.
DESCRIPTORS	Advertising; Instructional Materials; *Language Variation; Letters (Correspondence); News Media; *Pashto; Poetry; *Reading Materials; Uncommonly Taught Languages; *Written Language
IDENTIFIERS	*Authentic Materials

ABSTRACT

The "Pashto Reader Originals" is one component of the "Pashto Reader," a set of materials designed to enable the student of Pashto to read modern written Pashto. These originals are computer scans of most of the passages in the Pashto Reader, authentic written Pashto passages. They are presented in their original published or photographed forms to give the student practice in dealing with the language exactly as it appears in newspapers, books, magazines, handwriting, advertising, and wall paintings. The 37 selections are presented in 6 units: essays; articles; stories; poetry; public writing; and letters and memoranda. (MSE)

****
* Reproductions supplied by EDRS are the best that can be made *
* from the original document. *
****

ED353813

پښتو قرائت

Pashto Reader

د اصلی متونو عکسونه

Originals

U.S. DEPARTMENT OF EDUCATION
Office of Educational Research and Improvement
EDUCATIONAL RESOURCES INFORMATION CENTER (ERIC)

☑ This document has been reproduced as received from the person or organization originating it.

☐ Minor changes have been made to improve reproduction quality.

• Points of view or opinions stated in this document do not necessarily represent official OERI position or policy.

Center for Applied Linguistics

FL 020 894

BEST COPY AVAILABLE

پښتو قرائت

Pashto Reader

د اصلی متونو عکسونه

Originals

Habibullah Tegey
Barbara Robson

Center for Applied Linguistics
Washington, D.C.
1992

Introduction

Pashto Reader Originals is one of the components of *Pashto Reader,* a set of materials designed to enable the student of Pashto to read modern written Pashto. The other components are the *Pashto Reader,* which contains authentic written Pashto passages, with vocabulary, comprehension questions and other activities; and *Pashto Reader Passages in Transcription,* a set of the passages in broad phonetic transcriptions for use by linguists and others who are interested in the structure and pronunciation of authentic Pashto but are not familiar with the written script. The materials also include a *Pashto-English Glossary for the CAL Pashto Materials,* a glossary of all the vocabulary items used in the *Reader* and the other Pashto materials described below.

In this volume, most of the passages in the *Reader* are presented in computer scans of their original published form, to give the student practice in dealing with Pashto exactly as it appears in newspapers, books, magazines and other sources.

All four of the *Pashto Reader* components are available in microfiche or hard copy through the ERIC Document Reproduction Service. For information, please contact ERIC/CLL, Center for Applied Linguistics, Washington, D.C.

Table of Contents

Introduction ii

To the Student iv

Unit 1: Essays

Selection A: بی گناه بندی 1

Selection B: د پردې خبرې 3

Selection C: د خاندان خولـی 4

Selection D: پاکه پانه 6

Selection E: د زیارت ډیوه 7

Selection F: د پښتون د تاریخ نندارہ 8

Selection G: د غوتې زندگی 9

Selection H: ملاله 11

Unit 2: Articles

Selection A: احمق څوك دی؟ 13

Selection B: پښتنی ملی اتن 17

Selection C: د جدی شپږمه:د افغانستان د معاصر تارخ توره ورخ 20

Selection D: توکه نده واقعیت دی 24

Selection E: News Briefs 25

Unit 3: Stories

Selection A: یوه رښتیانی قصه 26

Selection B: قادر خان ختګر 28

Selection C: آدم درخانې 31

Selection D: قبر 34

Unit 4: Poetry

Selection A (Partial): الفت 39

Selection B: غنی 41

Selection C: بینوا 42

Selection D (Partial): حمزه شینورا 45

Selection E: جانی 46

Selection F: محمد جی 48

Unit 5: Public Pashto

Selection B: Wall Writing in Peshawar 49
Selection E: Advertisements 52

Unit 6: Letters and Memoranda

Selection A 55
Selection B 56
Selection C 57
Selection D 58
Selection E 59
Selection F 60
Selection G 61
Selection H 62
Selection I 64
Selection J 65
Selection K 66
Selection L 67

To the Student

The passages included in this component of the *Pashto Reader* materials are computer scans of the original passages. They have been cleaned up to eliminate extraneous markings such as bleed-through ink from the other side of the page (and in one case the remains of an insect that got caught in one of the newspapers), but otherwise are exactly like the originals.

We have included all the originals that could be scanned, with the exception of the passages presented in Unit 7, Fractured Pashto

If you are learning Pashto because you expect to be working with original documents, newspapers, journals, and the like, these computer scans will be of great help to you. The publishing of Pashto involves a great many factors to which English speakers, whose written language has been standardized for centuries, are not accustomed. Published documents are frequently hand-written; materials in Pashto are often - if not usually - typeset by people who do not speak Pashto, or whose literacy skills are shaky; often the inking of a newspaper is either too faint or too heavy to read easily. By comparing the originals with the retyped versions given in the *Pashto Reader*, you will be able to identify the results of a good many of these factors, and soon they will not interfere with your reading.

Unit 1: Essays

Selection A

بې ګناه بندي

پرېږ دی‌ه ! دا بې ګناه بندي پرېږ دی !

مه و پرېږی‌ه ، دده په آزادۍ لو کښې هېڅ خوف اوخطر نشته .

فساد او شرارت له دی نه نه پیدا کېږی .

د ده بندی کول لوی‌ه ګناه ده

دا هغه یوسف دی چه دبې ګناهۍ په سبب په زندان کښې لوېدلی دی .

که دی له زندانه راولوزی ستاسې آینده ښه ګوله شی او ستاسې دیلي

ور ځې غم خو دلی شی .

پرېږ دی‌ه ! دا بې ګناه بندی پرېږدی‌ه !

که‌دی خلاص شو ستاسو انتظام به یه ډېر ښه شان و کړی .

ستاسې وزی به ماره کړی ، ستاسې پرېږدو به پټ کا ندی .

ټاسې دغه ښکلی موجود په‌تورو څاګانو کښې مه غورځوی‌ه .

په‌زندا نونو کښې ئې مه اچوی‌ه .

په لېوانو او پرانګانوئې مه خوری‌ه

پرېږ دی‌ه ! دا بې ګناه بندی پرېږ دی‌ه !

دی به ستاسې د ګمو ودو او پریشانو خو بونو صحیح تعبیرونه و کړی .

BEST COPY AVAILABLE

(٨٦)

دپري سخري ' مبهمي او مجملي غوڼي به پرانيزی .

دی د راتاونکی حال پرشپینی کولی شی .

دطبیعت په رمزونو او اسرار و پوهیزی '

د جوی او فلکی او ضاءو اقتضاآت ور معلوم دی '

پرېږ دی ! دابي ګناه بندی پریږ دی !

دده په آزادی باندي علم او پوهه زیاتیزی .

وطن رنا کیزی ' رانده بینا کیزی '

دی له خپلو جفا کارو وروڼو سره هم ښه سلوک کوی .

دي دپر پیچو می او اړولی شی .

دپري کیزي لاري صمولی شی او دپر مشکلا ت حل کولی شی .

ما خوب لیدلی چه دا بندی خلاصیزی او دسلطنت په کرسی کښینی .

ښه فکر و کړی !

دابندی څوك دی ؟

پس له دې هر فکره وایم :

فکر دی فکر !

دخه لیکل یالیك پوهه .

Selection B

١١

دپردې خبرې

ترڅو چه دښځو مخونه پټ وي خبرې نه هم په پرده کښې وي ځکه‌چه په پټتو کښې خبره هم مؤنثه ده .

بوا لمې خبره لا څه چه ژبه او ښايي معنا خطا به مقاله هم دنايث‌علامې لري .

هغه و ښايي چه ا ښکار په کښې وي دادب پردې نه لا دپر ضرورت لري .

تاسې زماخبرونه لږ غوندې باريك شي !

دادب اوسياست خبره دپره باريکه ده .

زه په دپره ټرېه او باريکه لار لاړم ، خدای دې وکړي چه دپر باريك بين خلق په دغه لار راشي او په ځير ځير وګوري .

ما اوښان نه دي بار کړي زماقافله دمچيو ده چه دګلو نو له پاڼو نه پههوا څهراوړي‌اوعسل جوړوي .

له دې قافلې سره دسباوزمو خوشبوئي بار کړيده چه‌څوك‌ئې په ستر ګو نه‌وينې مګرحساس دماغونه ئې احساس کولی شي .

هوازما کار له احساس سره دی زما خريدار بايد دپر حساس وي يا دپر حساس شي .

BEST COPY AVAILABLE

Selection C

(۱۰٤)

بنوا:

دخاندانخولے

دژوندون په لوی دگرکښی هوچا هر چا زیار یوست چه ځانته ښه ژوند لار پیدا کړی .

دوی لوړی ژوړي ولټولي، هرې خوا ته ئی منډې وولې او هر څه هر څه ته ئی لاسونه واچول ، خوتر دیر تلاش وروسته نو لوته دا ثابته شوه چه تر هر څه دمخه باید د علم لمن ټینګه کړی او د علم په لار بنونه خپل مطلب ته ځانونه ورسوی نو اول د علم په زده کړه پسی ولاړل ، هیڅوک دژوندون په لوی دگرکښی بی تلاشه پاتی نشول -- یوازی دهغه لوی دگر په یوه گوټ کښی یو مغرور بی علمه زلمی، لاروچه دعلم خوا ته ئی حرکت ونه کړ او د علم دزده کړو نکو په ډله پسی رهی نشو دی مغرور او ناپوه زلمی د ځان سره هیڅ علمی سرمایه نه درلوده له بوازې دده پر سر د خاندان یوه زړه خولے وه چه د ده نوم غروز په همدې خولے وه

ده ته ددې خولے سیوری دهمای سیوری ښکاریده او د ژوندون تولی کامیابی ئې تردی خولے لاندی گڼلی نول بشري احترامات او انسانی تعظیمات ئی همدې خولے ته ورپاڼ استراحتونه، ثروتونه او خوندورخوراکونه ئی یوازې دهمدی خولے د خاوند حق ګڼلے ده ته هغه څوك ناپوه ښکاریده چه دا خولے به ئې پرسر نه وه. دلته پوه زلمی همداسی مغرور ولاړو څو چه د علم دزده کړی وخت ورباندی شو خوده ئی هیڅ پروا ونکړه علم ته ئی په سپکه سترګه وکتل خولے ئی کټره کړه او ئې وویل : هغه څه چه د ددې خولے ترسیوری لاندې کهډای شی د دنیا هیڅ علم ئی نشی کولای.

دکار وخت راغی دانا پوهه زلمی هغسی مغرور او بی پروا په دی فکر کښی وچه ، د ددی خولے د خاوند دپاره باید نور خلق کار وکړی، څلم قرن راغی له دی ناپوه

 BEST COPY AVAILABLE

(۱۰۵)

زلمی څخه ئی دتحصیل دپاومه و غوښتله زلمی په دې غرور او فخر دخاندان دخولې توصیفنامه وروړاندی کړه او دهغې امتیازات ئې وغوښتل.

خو شلم قرن وو رسره اشنا نه وو، هغه توصیفنامه ئې ونه او ستلی شو ه نو زلمی څخه ئې دکار محصول وغوښت بې عمله زلمی بیاخولې وروړپیش کړه او وئې ویل:

«داد کار فرماخولې ده - دکا ریګر خولې نه ده؟» .

شلم قرن دې بې علمه او بې عمله زلمی ته په غضب شو او د عصبی شو و نکی په ځیرئی ځپړه جوړه کړه او دا زلمی ئې په داسی ضربه له ځانه لرې وغورځاوه چه د «خاندان خولې» ئی له سره ولوړد له اوورته ئې وویل:

«ای نا پوه او بیکاره زلمیه: د اخولې دې پزه زړه شوی او له موده لو هلې ده نو ریه دې خولې ځان مه غولوه. او مه دنیا در پورې خندو ه - ولاړ شه علم زده کړه - کار وکړه».

Selection D

(۱۲۶)

ما ستر عبد الکریم :

پاکه پانه

پانې په خو خو قسمه دي، دو ني پانې دګل پانې، دقران پا نې، دژو ندد کتاب پانې او دتماکو پا نې، سره ددې چه هره پانه پخپل ځاې دېره درنه ده خو په تو او کښې د قران پانه ډېره پاکه اومبارکه د ه ، مګر زیات کارنن سبا د تماکو له پا نې نه اخستې شې .....

یو ازې کور ، کوخه ، حجره ، دېره ، پوله ، پټې نه دی چه ګنې دتماکو دپانې پېریان پرې ناست دي .

که د سګرټ په جامه کښې سکول ، کالج ، دکان ، د فتر او ښکلو ما نیو ته ور سېده نو هغه ده د نسوار و په دبلی کښې دجمات محراب کښې نا سته د ه او ان د ملا صاحب نه سر سا یه اخلې و لې دېره مو ده کپړې چه دچین ماچین ښاپیرو زمونږ دی وطن ته یو ه نوې پانه راوړې ده اودا وطن د د ی پا نې دو مره خوښ شو چه خپل ټول قا م قبیله ئې و ر پسې په کډ ه را وستلی او نو مې پا نه ئې سا ته کړه . د ا پانه درنګه تور ه او دخو ی نه ترخه ده خو بیاهم دخلقو تن وجود دی او هر سړی ور ته د و مره متا زه دی چه بې د دې د اجازې نه د کوره بهر ته نشې و تې بس د هرڅا دکور میرمن ده ، دی نه دچایو پا نه و یلې شې ، پخوا به خلقو سحر سبا په جمات کښې د قران په پانه ستر ګی غړه و لې ، ولې او س خو چه ئې دچایو پانه ښکل کړ ی نه و ی د قران پا نې ته کتلی قد ر ی نشی .

که چا ی دخو ی نه ترخه د ه نوخرا ب ئی هم شته که د پټې ته د ې ور ا ندې کړه نو مقدمه به و ګټی که په وکیل دی و و علاه نور ښتیا به درله دروغ کړ ی او دروغ به درله رښتیا کړ ی چه د تانې تحصیل د وا کدار و دچا یو غم کوی نو بیاسپین باز ګرزه خیر د ی که بې لیسنه تو پک سا تی او که غلا غلطې او جو ا ر ی کوی که د عوه ګټې قاض صاحب باندی ئی نوش کړه که ر ې بخښی نو ملا صا حب ته ئې هبه کړه .

BEST COPY AVAILABLE

Selection E

د زیارت په یوه

دجمعې شپه وه نه پوهیږم چه څه سودا و ا خیستم خو له کوره وو تم چیرته لری می څه ر ښا ترنظر را غله او د یوه لیونی په شان په منډه منډه ورغلم.

لویه هدیره وه ،زاړه قبر و نه وو ، او د لو حو نه پر ته نو ر څه په ستر ګو نه لیدل کیده.

هلته د کوم زاړه قبرسرته چې یوه انګول شوې وه- دا یو ه به ښائی کوم دا سی غریب اویا کونډی لګوالې وه چه خپل کوربه ئې تیاره وخو هدیره ئې رښا کړې وه اوپه دې ذریعه به ئې دمړو نه د ژوند مراد ونه غو ښتل .

دا کار که څه هم ګناه وه چه بې ځایه تا وان و. خو هغه ټه خپلی عقیدې ثواب او بنه کار ښودلی و.

مادزیارت چې یوه ولیده نود ناپوه اونا رسید لی قو م لیکو ال اوپوهان راپه ز ړه شول. دپوهوقو موپوهان داسی مثال لری لکه د کوږ نوې یوې چه ټو او ته ئې رښا رسېزی او رښائې بې ځایه نه وی.

په ناپوهوقومو کښې پوهان دزیار تودې یووپه شان سوز ی رښا ور کوي او په سوزآوګد ازمری مګرقوم دمړو په شان ور نه فیض نشی اخیستلا ی. هغه قوم چه پوهه نلری دپوهانوقدرهم ورسره نه وی، ګلهئې لیونی اومالبخو لیائی بولی او ګله ئې له ځانه شړی. مونږچه نه پوهیږ وځینې پو هان موله ځانه شړلی او ګوم وخت چه پوه شو بیا مود هغوهډو ګی بیرته راوړی.

BEST COPY AVAILABLE

Selection F

دبناغلی رشتین دانش نمونې:

دپښتون دتاریخ نداره

دري نیم زره کاله پخوا زه دویدا په سندرو کښې ستایلی شوم ، هغه مې نې وم چه په ویر او سندره کښې به یادېدم ، خپل تېر او ټول قام قبیل په مانبا یسته اوزما په نامه سرلوړی وو. زه دشر یفانو، پاکانو او اصیلانو په نسل کښې چه «آرین» ئې بولی دلسو خیلونو او قبیلوسر او سترګی وم ؛ زماله خوا زه نوم یعنی «پښت» څخه دویدا سندری خوږې اوخوند وری وي د «پکتاه» او «توروایانا» خلمی پاچاتا جو نه زما په سر پراته او په هر پښکلی اوښایسته ښکار ېدل ، زه د «ا ختر » او « بلخ» په زرینه او او ور ېښمینه زانګو کښې کلونه کلونه زنګېدلم . د سپین غر ،هند و کش، پامیر نرم پاسته پلازو نه زما دپا ره پښکلی اوجړاو شوی و دآمو اوا باسیند تر منځ د بخدیا پا رتیا ، پښتیا . آرا کوز یا او کند هارا په ځمکو ټول شنه بخملی فرشونه زما دپا ره هوار غوړیدلی وو ؛ اوزه به شامدام دهوسیواو کبلو په څېر د پښتې بخاد پسر لی په کلونو رغښتم ، ارغښتم . هغه وخت زماد فتحی او سویی جنډي د هندو کش په لوړو څکو رپېدي، آریائی سرو دونه غږ ېدل. دښایست او جمال ملکي یعنی د پښتخا (پکتیا) جونه او پغلی نځېدی اوماور ته په هزه خپل خوږ رباب واهه. . .

-۳-

BEST COPY AVAILABLE

Selection G

(۱۰۱)

خادم

دغوتې زنګ

د پرۍ شپې وړ ځې تېرې شوې ؛ موسمونه او وښته راو او وښته د سمندر دغاړې بادونو وربېځې د ځانه سره راوړي وريځود دغه ځای په حالت وژړل او اوښکې ئې توئی کړي .

دا اوښکې خو يو نه شوه ، بياسيند ونه شوه ، او بباو بالې شوې او وروسته د ګل په شاخ کښې وچليدې .

خدای ز ده خو مره علل او اسباب سره يو ځای شوه او خو مره شرايط وجود ته راغله چه پدغو تو لو باندې دغو ئې ژ ند ګي مرتبه شوه .

دسحر نۍ شمال په دې غو ئې ورو ، ورو د شفقت لاس تير راود شپې پرځې وربانديې خپله درافشانې کوله چه خو د شمال په دې پره دلاسا ينه غږ ئې خپل شين داو ن له مخه لرې کړه : دچمن طراوت ، دمرغانو نغمو ، داسمان دشنې فضا الا انتها ئيت ، د لمر زر ينو پلوشو ، دسپو ږمۍ مرغوبيت ، دستورو مرموزو اشارو او دکاينا تو نظام ته ئې وکاته او په نيمه خوله ئې وخندل .

چه خو بيادې خو له خندا ته جوړ له نمر دماسپښين ځای ته راغلې وغو ښه ددې خوا ته مخ واړا وه او سر ئې ټيټ کړو .

کوهې خت چه دنمر پر هوا ته له پلوه دنمر د طلائی پلوشو سره د نسيم په لګيدود غو ئې تازګی پاڼې رپيدی نو دی په داسی آواز چه ايله دشاعر دزړه غوږ ونو اوريد ی شو ويل :

پاکی تالره ده ای خالقا ، ای دکاينا تو صانعا ستا عالم خو مره ښايسته دی ، خو مره ګلالی دی او خو مره وسيع ؟ مګر ای خاوند ه ! زما دژ ندګی و لر همداو ، پس ! لږ سکوته ، يادار ه ؟ پاکی ده تالره زه راضی يم چه ستا دبې انتها ملک يوه ډېره ، جزئی برخه په ما ښايسته شوه ؟

BEST COPY AVAILABLE

(۱۰۲)

ستا دمخلوقا تود ستر گو طراوت وگرځېدم ، بلبلا ن را باندې وچمبدل ، بوراګا ن را باندی والوتل ،دصبا وزمی ز ما خوشبوئی یو وړه اوخپه زړوتهئی پی خوشحاله کړل ... دپرهثناده تالرهچه زه گل یم اواغزی نهیم ، نمرد غروب په حال کښی و ، گل خپل زړه په خپلو مراووپا نوکښی را ونغښت اودخپل حیات په وروستیو لمحو کښی ئی یواړې بیا داوویل : «دپرهثنا ده تالرهای خاوندهٔ چه زه گل پید اشوم اواغزی نهشوم،اوورژید .

Selection H

(١٤٦)

سمندر د بدر بنو :

پښتنی نه

ملا له

څه کم زیات دا تیا کا لو خبره ده کال دولس سو ه او ه نو ی هجر ی و د بر ات د میاشتی او لسمه ورځ و ه د پر نګی فوځ د میو ند په میره کښی پر و ت و په هر سا ز او سامان پو ره ، په خو را ک څکا ک مو رنګ سو ر او ړی و ، د آ سمان نه او رو ر یدو ، څمکه تیغنه و ه ملګ سو رتنو ر و کانی دګر ی ږ له ټاو ه چا و دل ، پهریانو تنو رو نه اچو لی و ، هو اسره لمبه و ه او به نه و ی او که چیر ته کوهی یا چینه و ه نو په هغو د دښمن قبضه و ه د مسلمانانو غازیانو سره او به خلاصی شو ی و ی له تندي د هر چاڅ بی و تاې و ي مر ی ه و چې ؛ شو ند ي - پښي تښتیدلي و ي ، سره د دي ملاتړ لی و لا ړ و او دا یی غو ښتل چه د دین دښمن ، د آ ز اد ی ه دښمن د خپل ملګ ، نه و باسی و ر ک پې کړی خو د د ښمن زور د ډ ر و او خښ ناست و او جنګ ډ د و آ خر چه په غازیا نو تند ي د یر زور و کړ و نو دا سې و ا ی چه څینو څینو په شاو کنل ، ز ړ و نه ټې پر یو ټل ، وا ړ ي خطاشو ، امام حسین رض

مسلمانانو ته یو سبق پر یښی د ی چه که چیری هم د حق او باطل تر مینځ جنګ و ی د باطل د یرز و ر و ی د حق ملګری په سر و نو هم کم و ی او په وسله هم اولو ز ي تندی پر ی هم را شي خو بیا هم باید ه د ی چه د ذ ابل ژ و ند ځنې د عزت مرګ و ا خلی خو کله کله مسلمانان دا سبق هیر کړی نو څکه پر ی و ار خطایی غلبه و کړی هم د غه و جه ده چه په میو ند کښې هم مسلما نا نو تښته و کړه او په شار وا نشو لو ر ستو د د وی ښځی وي په هغو کښې ږ وي چینې سر هسک کړ و او د ځان سره ټی و وي چه دا خو کار خراب شو ؟ دا چینې ملاله و ه ، ملاله د ملی غرور او کلکی پښتو ه که په تلوار د ښځو د منځ نه د غ ا ز یانو په او ر و ر و انه شو ه چه نز د ی و ر غله لکه ز ړ و ره ، نره شیر ببره ، و د ر یدله او لکه یو ه جرنیله ټې د زړه د اخلاصه نعره و کړه چه :

ای پښتو میر نو !

د هر جنګیالی پښتون غوږ ته داچغه و ر سیده او په جنګ کښی ټی د ملالې و ر ته و کنل ملالې د زړه د جو شه دالندی ر و و ی چه :

BEST COPY AVAILABLE

په کـه خار :

کـه په مينو ند کښې شهيد نشوې خدا يزو لالـيه بې ننګۍ نه دې ساتينه

ډملالۍ دلندۍ يو يو توری دهر غازی په زړه لکه دغشی و رښخ شواودې چه دا ټپه ختم کړه نو سمد ستی ئی دالله تعالی نامه راخيسته «الله اکبر» اولکه د زړې زهر مه ئی دد ښمن په لو رو رمنده کړه او په منده کښې بې دابله لنډۍ شروع کړه :

په قربا ن - .....

خال به د يار په وينو کيږ دم چه شينکی باغ کښې گل گلاب و شر مومه

دما تو مسلمانا نو غاز يا نو د غيرت جذ به په جو ش شو ه ،مات زړونه يې جورشـول لـکه چـه مـړه راژو ند ی شی د هر غـا زی په و گ ګ کښې پښتنی وينې منده وکړه و پښته ئی و د ر پد ل ، مـلا له بيا د دوی ترهنـګ و تلی او په دښمن و رغلې وه هريو ورپسی ورمنده کړه او دکفا روپه لښکرو ورغلل دښمن څه مقابله خو وکړه خو مسلمانان چه يو و ارپه کلکه دالله تعا لی نوم واخلی نو غرونه و هم نه ټپـګـيږ ی آ خر د ښمن ،ا ت شو هغوی به په شا تښتيد ل او ميړ نو غا ز يانو به وهل د هر ئی مړه کړل او ديرو تښتيد ل تو پې او گولۍ تر يې په څـای څـای پاتـی شوې ميوند فتح شو- داچافتح کړو ؟-داپښتنی ملالی :

نه زړها ځلمی ورغلی ترکمالـه نه يوه نره ملاله مينو ندوا له

BEST COPY AVAILABLE

Unit 2: Articles

Selection A

(۱۷)

احمق څوك دی؟

هغه چه ددنیا په سود اوزیان نه پوهیږی او د ګټې په ځای تاوان کوی خلق ور ته احمق ،بې عقل اوساده وائی .

داحمق اوساده یو مثال ملا نصرالدین دی چه په ظرافت اومسخره توب هم شهرت لری .

ددغه مرحوم دحماقت دایل دخلقو په نزد دادی چه ده به په یوه روپیه خلور دانې هګۍ واخستلی هغه به ئې وخوتولی په رنګ به ئې سرې اوشنې کړې بیا به ئې دروپیو پنځه دانې خرڅولې یعنی د ګټې په ځای به ئې تاوان کاوه او خپل مال به ئې ارزانه خرڅاوه .

اوس چه څوك له چانه څه شی ارزانه وغواړی هغه وائی څه ملا نصرالدین خو نه یم .

دانوم اوس دومره عام شویدی چه که هر څوك یوشی ګران واخلی او ارزانه ئې خرڅ کړی خلق ورته ملا نصرالدین وائی .

BEST COPY AVAILABLE

مونږ په خوله وايو چه عقل بل شی دی او د دنیا مال بل شی دی . څوك به عقل لری مال به نلری، خینو نورو سره به مال وی او عقل به نه وی، مګر په عملی ډول د عمر چا عقل او یې عقلی ددنیا د ګټې او زیان له مخې معلومه وو او په حقیقت کښې ګټې نه عقل وايو او زتاوان یې عقلی بلحمقت بولو .

زمونږ په خیال او تصور کښې دانشی راتلی چه ملا صراالدین به دا کار ددې دپاره کاوه چه برخ ارزانه کړی او خپل احسان په دغسې تجارت کښې بټ کړی چه خریدارئې به سخاوت هیڅ پوه نشی او کرامت حماقت و ګڼل شی .

که زمونږ ګمان ټیك او نه وای ملا نصرالدین به مسود خیر او فیض خاوند ګانه او دهغه به عقل پوري به مونه خندل .

هغه ښ کمال زمونږ په عیوادکښې قحطی او ګرانی وه، بوه لوی سودا ګر له هرات نه د پره غله قندهار ته راوړه او په خلقوئی دبازار له نرخه ارزانه خرڅه کړه یعنی ګټه ئې ونکړه تاوان ئې و کړ دا کار هیچا د هغه په ډې عقلی حمل نکړ او په اخبارو نو کښې ئې د پره ستاینه وشوه .

هغه نه چا ملا نصرالدین وویلی بلکه د خیرا و برکت خاوند ئی وبلله .

بووخت زه یوه شنمن سړی کړه میلمه شوم د هغه په کاله کښې مرڅه پاڅه شو . مګر سکرټ ئې نه دراوود ، د کاله خاوند خو علم ډډې د وډی خپلو همسایه ګانو سره لپاړې او هماغومره مکر ګان ئې راوړه

ما نه دا معلومه شوه چه دوی څه ورځ دغه راز تجارت کوی او پخپل کاله کښې جواری نه پرخوی .

BEST COPY AVAILABLE

که دغمراز کاریوخواراوغریب وکړی حماقت دی،مګر دبدایانو دپاره صفت دی

که خواران او غریبان له اسراف او تبذیر نه کاروا خلی دیره لویه ناپوهی اونادانی ده،مګر بدایان په اسراف اوتبدیر دجوداو کرم خاوندان ګڼل کیږی.

دغه عقل چه دخواراو غریب رهبری کوی دبدایو نو دپاره نه دی په کار.

هواعقل هغه استاد چه ګوته اوضعیف انسان وونه اړدی.

هغه چه دقوت اوقدرت خاوند دی دغه ضعیفانو وسله ورته په ښائی.

دعقل عینکی د کمزوری نظر بینا ئی زیاتوی او دنیز نظر خاوندان ئی ګله ګله د ډول او فیشن دپاره په ستر ګو کوی.

که څوك عقل اوهوښیاری لټوی دخوار او غریب په ګوټ کښې دې ولټوی زورورا و بدایان له دغه شی نه بی نیازه دی.

دزورورو په مخکښی عقل ګونګاوی اوپوښ مزخرف معلومیږی هرڅه چه بی ضرورته وی او احتیاج ورته نه وی بلاښکاری له قیمت ئی لږوی.

BEST COPY AVAILABLE

(۲۰)

که چیرې په انسان کښې د بره نیمګړتیا او کمزورې نه وای او عقل نه ئې احتیاج نه درلودای عقل او پوهې به دغومره قدر نه درلوده .

بوبدای که په زړهاوروبې بوه شپه په قمار کښې، ایلی احمق نه دی هغه چه دورځې دشلو بادبر شورو بوبه سګرتو اور لګوی یا د سیګما او تیاتر په تشه نلري بیسې ور کوی څوک ورته احمق نه وائی، مګر که بومزدور بوه ورځ کار و نکړی او وزګار و ګرزی احمق دی ځکه چه بیګانه به کور کښې څه نلری او وزې یا ته کیږی .

کله چه بوبدای بوه ښکلی نفیسه تابلو یه د پرورو بواخلی یا ځینې انتیک اوزاره شیان دنش نمودد پاره به د پرلور قیمت رانیسی هغه بل چه بوزور قلمی کتاب چه ذوق او صنعت پکښې خرڅ شوی به ګرانه بیه اخلي او دهماغه کتاب چاپی نسخې د پرې ارزانه لاس ته راځی نه ووایه چه دغه راز تاوانونه دڅه دپاره دی ؟

که غرض معنوی استفاده وی هماغه معنی په چاپی کتاب کښې هم شته معلومه شوه چه مال تاوانول دنامه اوشهرت دپاره، دشوق او ذوق دپاره، دهوا او هوس دپاره حماقت نه دی صنعت دی او ستاینه ئې کیږی مګر بدی شرط چه سړی خوار او فقیر نه وی بدای وی او د پرې بیسې ولری.

اوس خوبه پوهیدلی یاست چه احمق څوک دی او مونږ چاته احمق وایو؟

BEST COPY AVAILABLE

Selection B

علي محمد منګل

يمه پول دي پژه شه دا پول دي ولي غلی کی
حکيم صوبه ګاډي وي نيازمين صورت يې سټري کی
چې پول وهی محوالان ټولیږی يا به ليکروي ياغدی دژيو ځمونه

پښتنې ملی اتن

په منګلو کې اتن (ګډا يدا) په څو ډولودی ؟

پښتنی ملی اتن ډير ځنډ ن دود او ملی عنعنه ده چې دګران هيواد په زياتو برخو په ټوله د پښتنو په ټولو سيمو کې دا ملي عنعنه په ز يا ته سينه سره تر سره کيږي ، افغا نان دا ملی دود دجنګ، اختر ، واده ، خپلواکی په ورځو ، جشن او پسرلی په لومړی ورځ کې په خاصو مراسمو اودو او نو سره په خو بی تر سره کوي . ملی عنعنه کې د پښتنو قومی روحيه په حقيقت کې اتن يوه ځنډ نه ملی لوبه ده

BEST COPY AVAILABLE

په گران هیواد کې، لې اتن یوازې نریځه نه کوي، بلکې د پښتنو پیځلې ، جلکې او ښکې یې هم ډیر دي. ویدونو (اختررنو) په ورځو کې په ډیره مینه او خوشالی سره کوي ، د دې له پاره دغه څو بامونه (بیتو نه) وګورئ چې په موضوع باندې رڼا اچوي :

خت مې ګلبدن ګونځې یې ورای نه شم
زه چې ګډه نه شم د دلم ښکه راوړ ای نه شم
یمو (زما) شهر یمن جانانه!
لیلو (لیلی) ګډ بیړي غوږ څوګو یې سره دسمالونه
خت مې ځینګیري دی ، زه یې ورای نه شم
یمو (زما) اد کې مې رې اتن کړاوونه شم

په واده کې اتن څنګه پیل ګیږي ؟

مویږدلته دواړه په سراسمو خبرې نه کوو ، بلکې یوازې دواړه په وخت کې اتن په شروع کېدو باندې خبرې وچې څنګه په کلیو او بانډو کې داتن دود په دې ډاډه کې دولس ترمنځ ترسره کیږي .

په منګلو کې د چارشنبې په ورځ د هلک پلار یا تره اوورونه خپلو کلیوالو ته خبر ورکوي چې سبا د زیارت ورځ ده مویږد خپل زوی اوورو ردپاره دواړه په نیت وراجوړوو، زمویږه ډاډه کې خوبه تاسي ګډون کوی ، کله چې کلیوال خبر شي د چارشنبې په ورځ خپلې تورې څنې (۱) په ویښو (هګیو) مینځي ، دغوږ په زېړو غوږیو یې غوږوي ، د پنجشنبې (زیارت) په ورځ د تنکی بریږ په وخت کې خپل ملي لباس اوجامې اغوندي ، خوانان د څو نو (کمیسونو) د پاسه دلیس او چرمینو نه جوړشوي سره ، شنه او زرغونه واسکټونه چې له بخمل نه جوړشوي اغوندي ، د واسکټو نود پاسه د پنځو ګمتو (سلو کرتوسو) بندونه غاړې ته اچوي او تر ملاوې تړي ، خپل پنځه د زې ، ملخې ، لیسنې اوغوږور توپک سترو نو ته اچوي ، د ول د ول تورې ، نسواري سپینې اوخړې لونګۍ په سر کوي ، د تکندې پاستاغ بریږ په وخت کې د ول وهونکی د کلي ترشا یا سنګ کې د رمندا و میدان ته ځان رسوي او په هر تاس اوخرابه سره د چوغې چې د ول وهي ، خوانان یا د هلک د کلي وروڼو خوانان چې د د ول غږوا وري له خپلو کورونو نه راوزي او داتن میدان ته چې د ول وهونکی په کې ولاړ دي ځانونه ورسوي ، خوانان چې داتن میدان ته داخل شي د چوغې (چیغې) د د ول له غږ سره پورته پورته غوږیږي او تو پونه وهي ، یو نیم تن د تو پکو د ډې (د زونه ، پاروونه ، وارولونه) کوي ، د خوشحالو له پاره د ول وهونکی د چوغې

(چيغې) د ولددې له پاره وهي چې لحوانان تول راغو ندشي، کله چې لحوانان تول له کورونو نه داتن میدان ته راوړسیږي په دې وخت کې د ولچې د دول غږدچو غې (چغې) له حالت نه داتن د پاره راوي او لحوانان د میدان په منځ کې دوې ډلې کیږي، بوه ډله د میدان په یوه سرکې په کتار سره درېږي او بله ډله د میدان په بل سرکې په یوه کیله او کتار سره درېږي، لاسونه سره ورکوي، بو وارې بو کتار په لوړ آواز داتن بیت وایی او بیا یې بل کتار د اتن بیت په لوړ آواز د دوی د پام او تن د بیت دورګرزولو او سخې کولو له پاره وایی، د مثال د پاره داسې تونه وګورئ، چې لحوانان اوورونې یې په لوړو زړه ورونکو غږونو سره په خاص اندز او کیفیت وایی .

Selection C

خپلواکی، څلورم کال، څلورمه گڼه
(مرغومی - گڼه) ۱۳۶۸ه.ش . .

پروفیسر عبدالرسول امین

دجدی شپږمه

دافغانستان دمعاصرتاریخ تورهورځ

د ۱۹۶۸ هـ.ش . کال دجدی یه شپږمه نیټه دآزاد افغانستان دلیکوالودټولنې (وفا) له خوا دجدی دشپږمې دروسی برغل د لسم کلیزې دمناسبتې له پاره دسیمینار یه اړه دتشکیلاتو هوډ کې نسوه غونډه جوړه شوې وه . یه دغه غونډه کې دافغانستان داسلامي موقت دولت رئیس ښاغلي پروفیسور صبغت الله مجددی، څلنو نورو هیوادنو لیکوالو، دجهاد څلنو قوماندانانو، کورنیو او بهرنیو زورنالیستانو او گڼ شمیر علاقمندانو گډون درلود . دادی دلته یه ساده ډول غونډه کې دآزادافغانستان دلیکوالودټولنې دمشر پروفیسور عبدالرسول امین پرانیستونکې وینا وړاندې کوو .

(خپلواکی) —

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغانستان داسلامي موقت دولت درئیس محترم حضرت صاحب پروفیسر وصبغت الله مجددی ، ښاغلو میلمنو او درنو حاضرینو په اجازه ، تر هرڅه دمخه دغې غونډې ته ، ستاسو د ټولو راتگ ته ، دخپل ځان اودآزادافغانستان دلیکوالود ټولنې د ټولو غړو له خوا ښه راغلاست وایم .

لس کاله پخوا په همدغه ورځ، زمونږ پرآزاد، نا پیلی او اسلامي افغانستان دروس برغلګرو لښکرو راغلې اوداسې ووچې زمونږ میړنی مسلمان ملت او ټولنې دروسي وحشت دیوې بلې برغلګرې بیلګې شاهدان شول. د ۱۳۵۸ کال دجدي په شپږمه نیټه زمونږ دملت دتاریخ په پاڼو کې یوه نه هیریدونکې تراژیدي ثبت

BEST COPY AVAILABLE

خپلواکی

شولـه اوښن موږدهماغې توري ورځې دغندلولـه پاره،د خپل میرنې مسلمان اومجاهدا ولس دتاریخي میړانې دلمانځلولـه پاره،را ټول شوي ښو.

موږافغانانوتل دګاونډیتوب اودیوا وبل په ډکورنیوجاروکي دنـه لاس وهنې پربنسټ لـه ګاونډیوهیوادونوسره،اړیکي ساتلـې وې اوپـه دې لړکې مولـه،روسانوسره،هم ورتـه،جلندکړې و،،اوهیڅکلـه مودهغوی لـه پاره،کومې سرحدي اوامنیتي ستونزې نـه وې پیـدا کړې.

خوروسانوددې ټولوعینې واقعیتونوپرخلاف دښه ګاونډیتوب پـه غولونکوشعارونو، زمونږلـه پاره،یوازې ستونزې اوبدمرغـې پیدا کړي دي. دهغوی دوستۍ، دا،یکوپـه ټول تاریخي سیرکې،لـه غولوونکوشعارونواوتشولفاظیوڅخه ډکده، هغوی غوښتل چـې زمونږخلک دښه ګاونډیتوب ، دیوا وبل پـه چارو کې دنـه لاس وهنې ، سولې، بې قیدا وشرط مرستې اوپـه نورودغه ډول نومونوا وشعاروـ نووغولوي. هغوی زمونږپرخاوره،لـه هرډول مداخلې ډڅه ځان ونـه ژغورلو.

پـه افغانستان کې دهغوی پـه لاس دخلق ـ پرچم مزدورګوند ، دهغوی دګټودتحفظ پـه خاطرجوړشو. هغوی ووچې زمونږپـه هیواد کـې بې ښوسره،فرمایشي کودتا،دشوردکودتا پـه نوم،ترسره کړه اوپـه دغو بې لابسنـه ونـه کړه اود ۱۳۵۸ کال دجدي پـه شپږمه نیټه بې سروپوڼوـ نوپرافغانستان یرغل وکړ اودیومستقیم تیري لـه لارې بې خبـل بولاس پوڅې رژیم دواکمنې پرګدي کینولو.

پـه افغانستان کې دشورلـه کودتا اودروسانودمستقیم تیري لـه پیل سره،سم زمونږداولس دغمونو، بدمرغیو، مرګ او ژوبلـې بـهیرهم پیل شو. پـه زرګونوروحانیون، دیني عالمان ، قومـې مشران، روښانفکران، بزګران اونورپـه اسلام اووطن مین کسان شهیدان شول، زخمي اومعیوب شول اولـه ډول ډول ناتارونو سره مخامخ شول.

۴

د جدي شپږمه ..

ددې پېځنګ کې له دغې خونړۍ پېښې سره سم زموږ مسلمان ، میړنی او مجاهد ملت دتاریخ یوبل امتحان ته چمتو شو. د جهاد بیلابیلو سنګرونو ته یې وروداننګل اوله خپل دین، خپل هیواد او خپل ناموس څخه دساتنې مورچلې یې جوړې کړې. موږ دې ته مجبور کړی شوچې هرڅه پرېږدوا وتورې راواخلو ، دا ځکه چې ددین او وطن غوښتنې مومخې ته ولاړې وې.

دروسانو له وحشي یرغل سره سم ، له افغانستان څخه د هجرت سلسله پیل شوه . تر له پنځه میلیونو څخه زیات افغانان په پاکستان، ایران او نورو هیوادونو کې مهاجر دي. دمهاجرینو لږ ې اوس هم راروانه ده. په ټوله نړۍ کې دافغانانو په اندازه لا بل اولس نه دی مهاجر شوی. دا دروس دیرغل سوغات دی. دغه یرغل نورې ډول ډول اقتصادي، اجتماعي، سیاسي، فرهنګي، رواني او نورې تباهي له ځانه سره لرلې. ټول هیواد په کنډوالو بدل شو ، له یونیم ملیون څخه زیات افغانان ووژل شول، کلي وران شول ، ښوونځي او روزنه په ټپه ودریده ، ښارونه ، ګڼګلونه ، غرونه او رغونه زیانمن شول. زراعت له تباهۍ سره مخامخ شو او داسې خو د وطن دبیا آبادۍ موضوع د ډیروزیاتو کرکیجونو او ستونزولرونکې ده.

اوس چې روسان یوازې په فزیکي لحاظ له افغانستان څخه وتلي دي، په حقیقت کې دهغوی مداخلو او تجاوزنوي ډولونه اولاړ پیچلې بڼه پیدا کړې ده. هغوی اوس هم په افغانستان کې د خپل لاس پوڅي رژیم ملاتړ کوي. دکابل مزدوررژیم ته نه یوازې هر-اړخیزې مرستې ورکوي، اوس هم په ټول اولس ناکوښې روانې دي او ترا وسه پورې لا شوروی، زموږ دمسلمانو او وطن دوستو خلکو د ارادې او غوښتنې په مخالف لوری ولاړ دی.

افغانان په ترهګرۍ پورې خپل سپېڅلي اسلامي جهاد ته ادامه ورکوي چې په افغانستان کې یې دخپلې خوښې یو اسلامي حکومت نه وي جوړ کړی. دا دهغوی دجهاد دپیل او دوام یو اساسي

ټکی دی:

روسان په نړیوالـه ټولنـه کې، دافغانستان په وړاندې ځان تش دانساني اواخلاقي ګناه په نوم نه شي تبرئه کولی. هغوی بايد چې اوس دخپلـو ګوډاګیانو حمایت پریږدي، افغانان خپلې خوښـې ته پریږدي، چې پخپلـه خوښه په افغانستان کې یو سلامي حکومـت منځ ته راولي. روسان دافغانستان دټولې نړۍ اساسي مسئـولیـن دي اولازمه ده چې هغوی افغانانو ته دټول جنګ او ټولـې نړۍ تباهۍ بشپړتاوان ورکړي.

زموږ خلک دخپل حق لـه پاره جنګیدلي اواوس هم جنګیـږي. موږ په خپلـو وینو دخپل حق ثبوت وړاندې کړی دی. دغه وینې او سرښندنې ددې نتیجه شوه چې روسان دلومړي ځل لـه پاره په افغانستان کې ماتې وخوري اولـه افغانستان څخه ووځي. دافغانانـو دغمیرشندې دټولې نړۍ لـه پاره یوه همیشنۍ نمونه شوله او اوس دادی زموږ دجهاد او قربانۍ نتیجه ده چې نن دختیزې اروپا اولسونه هم دخپلواکۍ لـه پاره مبارزه کوي، ځینو ترلاسه کړې او موږ باور لروچې په راتلونکي کې به دشوروي لویږی مستعمرې خپلواکـه او آزادې شي اودغه اولسونه په داسې سیاسي سیستمونه جوړکړي چې دخپلـو خلکو خوښه اوغوښتنې یې دي.

اوس چې افغانستان دبرې په وروستي پړاو او بشپړې آزادۍ په درشل کې دی، موږ هیلـه کووچې دافغانستان ټول قهرمان جهادي تنظیمونه به په خپلـو کې لامتحد او متفق شي. دغه اتحاد به زموږ دبشپړې وروستنې برې ضامن وي.

لازمه ده چې د دوست او مسلمان هیوادپاکستان لـه دولت او خلکو څخه دهغوی دهرارې خیزو مرستو لـه امله مننه وکړو چې ددی هیواد خلکو او حکومت زموږ سره بشري او اقتصادي مرستې کړي دي او زموږ سپیڅلی جهاد، چې ددوارو هیوادونو مشترک هدف دی، ملاتړ یـې کړی دی. موږ هیلـه لروچې په راتلونکي کې به دغه دواړه اسلامـي هیوادونه دورورولی داوسنۍ ثبوت دواقعیت په اساس دیو او بل دملاتړ په حیث دورونو غوندې ژوندوکړي. موږ افغانان ددوسـت دوستي اوددښمن ترخې تجربې نه هیروو، موږ لـه نورو دوستو هیوادونو څخه هم دزړه لـه کومې مننه ځرګندوچې زموږ دهجرت دستونزو په برخه کې یې مرستې کړي اوزموږ دا سلامي جهاد سره یې ملاتړ کړی دی اوکوي یې.

په درنښت

BEST COPY AVAILABLE

لیکوونکی م.ن. سالارزی

واي کله چې دشوروي اتحاد پخوانۍ جمهور رئیس میخائیل ګرباچف دامریکا دجمهور رئیس بوش په بلنه امریکا ته سفر کړی و، بوش دګرباچف ډیر توصیفونه وکړل او ګرباچف یې دنړۍ والي سولې دټامین، دشرق او غرب تر مینځ دارېکو دښه والي اصلي محور وګانه، جمهور رئیس بوش جمهور رئیس ګرباچف ته وویل دا چې اوس دشرق او غرب تر مینځ سړو جنګ پای ته رسیدلی او ددوو ابر قدرتونو دمخامخ کیدلو خطر هم له مینځه ټلل دی اوس دسپینې مانۍ- واک لرونکی تا ته ډیر دقدر په سترګه ګوري او امریکائیان تا خپل نژدی او صمیمي دوست ګني- نو زما یوه هیله ستا څخه دا ده چې ته به رسمي میلمستیا څخه تیر شوی، زه غواړم چې ستا په فرمایش درته ټن خواړه پاڅه کړو، ګرباچف په خواب کښې ورته وویل: اشنا زه خو هسې هم امریکا ته په خدمت کولو او دسوسیالیزم دښمن معرفي شوی یم ددی لپاره چې ټرومالو ته ډپانګوالو څان ضد وښایم نو ځما ارزو دا ده چې ډیر خو لویو امریکایي پانګوالو دزړونو څخه راته کباب تیار کړی، بوش په خواب کښې وویل چې باره! مونږ لوی امریکایي پانګوال که پانګې ډیرې لرو ولې زړونه مو ډیر کوچني دي مونږ دخپلو شخصي او ځانګړو ګټو او اهدافو پرته په وړیا ټرګه یو ډالر هم چاته نه ورکوو، مګر کله چې په یوه مسئله کښې زمونږ ځانګړی ګټې او اهداف موجود وي هغه وخت مو زړونه ډیر لوی ډپانګې قربانی شه کوی چې دځانونو قربانی- ته هم حاضریږو، سنا دغوښتنې لپاره که یو شمیر پانګوال قربانې هم شي مهمه نده

ټوکه نده واقعیت دی

ځکه ټاسو خو نشو خپه کولای، که ټاسو خپه ګډو نو په ټوی- کښې زمونږ ځانګړی ګټې او اهداف دخطر سره مخامخ کیږي نو مجبور یرو چې دخپلو ګټو او اهدافو دساتلو لپاره څو ته قربانې ورکړو او تا خوشحاله وساتو، چې په نتیجه کې دګرباچف دغوښتنې سره سمه غذا تیاره شوه.

کله چې جمهور رئیس بوش مسکو ته په سفر لاړ، نو جمهور رئیس ګرباچف ددی لپاره چې کسات یې ادا کړی دي دجمهور رئیس بوش څخه یې دخپلې خوښې دغذا دتیارولو دفرمایش غوښته وکړه، جمهور رئیس بوش وویل خوږه باره! که ټن راته ډیر څو ټنو لوبو لوبو کمونستانو دمغزو څخه غذا تیاره کړی نو ډیر به خوښ شم- جمهور رئیس ګرباچف دبوش دغوښتنې سره سم دغذا دتیارولو لاړښرونه وکړه، ولې دډوډۍ دټاکلې وخت څخه څو ساعته زیات تیر شوو، اما غذا تیاره نشوه- جمهور رئیس بوش، ګرباچف ته وویل چې باره ډډوډۍ- دټاکلې وخت څخه څو ساعته زیات تیر شوې، ډوډۍ- نده تیاره؟ پدې وخت کې جمهور رئیس ګرباچف یو آه وکړ او وی ویل هغوه خوارم دهغه وخت څخه چې تاسو دغذا فرمایش ورکړی دی تر اوسه پورې مونږ یو زیات شمیر خټ، خټ کمونستان حلال کړل خو په ډیر تاسف سره باید ووایم چې دیوه په سر کښې هم ماغزه نه وو، ګاشکی چې تاسو دکمونستانو دژوند څخه دغذا فرمایش ورکړی وی، ځکه دکمونستانو ژبې ډیرې اوږدې دي ولی په سرونو کښې یې بالکل ماغزه نشته.

Selection E

مزارشریف :

میډیا:له جهادی سنګرونو څخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی دمزار شریف نومیالیو مجاهدینو دمزارشریف په ښار کی ددښمن په پوځی مرکزونو ددرنو وسلو وزی وکړی چی دهغو په نتیجه کی دمزدور رژیم دقواو دوه ټانکونه تخریب او په هغو کی ناست کسان وژل شوی اویا ټپیان شوی دی .

خبر زیاتوی چی دښمن ته زیات مالی زیانونه هم اوښتی دی.

دیو بل خبرله مخی مجاهدینو دبلخ.جوزجان په لویه لار درژیم پر پوځی کاروان برید وکړ چی دهغی په نتیجه کی پنځه تنه عسکراو ملیشه وژل شوی اوځلورپر پوځی اکمالاتوبار لاری سوځیدلی دی .

بغلان :میډیا،

د خواخوږی پیغام

دافغا نستان دجمهورریئیس محترم نجیب الله له خوا داطریش د فد را لی جمهوریت د جمهور رئیس کور ت والد هایم په نا مه ددغه هیواد دمسافر و پرونکی الو تکی دزاغور زیدو له امله جی‌دسر زیان پی اړو لی دی دغه هیواد ته دډاډ گیرنی پیغام مخا بره شویدی .

په پیغام کی دافغا نستا ن دخلکو زوړه خوا خو ږی څر- گنده شویده .

اخبارخارجی

ددیکوبار او عرفات ترمنځ کتنه

دفلسطین د خبری آړا نس د خبر له مخی د فلسطین د آزادی غو ښتو نکی ساز مان رئیس یاسر عر فات د ملګرو ملتو د ساز مان له سر منشی هاویر پریز دیکو یار سره د نا یجر یا په پایتخت په ابوجاکی د افریقا د یو والی ساز مان په اوه ویشتمه غو نده کی کتنه او خبری وکړی .

دغه آژا نس خبر را کو ی دوی د لبنان په جنوب کی د اسرا ئیلو د بر له پسی بریدونو په باب خبری وکړی دوی همدا راز د ژنیو د خلورم کنوانسیون د لاسلیک کوو نکی غونډی د جوړ یدو غو ښتنه وکړه او د منځنی ختیځ دسولی دبهیر د پر مختګ په خاطر د امریکا دمتحده ایا لاتو اوشنګټن روی اتحاد د هلو ځلو په باب خبر ی وکړی .

Unit 3: Stories

Selection A

یو رښتیانی قصه

خوکاله : پخوا تاماس خان اپریدی له تیرانه دمومند وغرونوته ولاړ او په لاره دیر بی پروا تیریده ، دده توپک دیر ښکلی او دیر ، باوری وځکه ئی له چانه ویره نه کیده. دمومند وبنارس خان چه دهغه قیمتی توپک ولید دومره ئی خوښ شوچه په هیڅ شان ئی زړه نشو صبر ولی ، مومند سری چه بنه توپک وو یني نو بیاځان نه وینی او دسر په سودا هم ددغسی توپک اځستلو ته تیار وی .

بنارس خان په همدغه اراده له کلی اوودانی نه لری دتاماس خان مخه ونیوله اوغږئی پری وکړ چه توپک همدغلته کیږده او ځه تاماس خان چه داغږ واوریده سمدلاسه ئی یوی تیږی ته ځان پناه کړاو په دزو ئی شروع وکړه داځکه چه یو پښتون هیڅکله داپیغور نشی قبلولی چه په ژوند چاته خپله وسله تسلیم کړی دا کار په پښتنو کښی یوه لوبه بی غیرتی ده او ددغسی سړی اولادونه هم دخپل پلار پدغسی نامه شرمیږی تاماس خان پدی پوهیده چه که دده دزی له بنارس خان سره شروع شی نو ارو مرو نور مومند دهغه په مرسته رارسیږی او او په شخړه جوړیږی مگر سره لدی دی مجبورو چه په یوه سر جنگ شروع کړی او دبی غیرتی نوم په ځان کښیږدی پدی جنگ کښی بنارس خان ووژل شو اودتاماس خان گولی دهغه په تندی ونښته مگر ددزو په اوریدو له یوی خوا او بلی خوا دمومندو چیغه راووته او تاماس خان دیر کوشش کاوه چه له دغه ځایه په منده پښی وباسی .

هر کله چه دی دغړه سری واو په غږونو کښی دیر گړندی تلالی شو نو سره لدی چه له لری ورباندی دزی کیدی نو بیائی هم پر ځای ته ځان ورساوه مگر په مخکښی ئی له نورو کلیونه نور خلق راووتل او دی پوه شو چه دوه خواجنگ نشی کولی ځکه ئی دیوه خوړ په غاړه یوه کاله ته پناه وروړه او دځان دحمایت غوښتنه ئی وکړه ، دې ته دامعلومه وه چه که یو خونی او قاتل هم دیوه پښتانه کورته پناه وروړی هغه پری له سر او ماله تیږی او چاته ئی په لاس نه ورکوی دپښتنو دغه پښتنی عادت دیر شهرت لری او هر پښتون ترینه هر چیرته خبر دی تاماس خان چه پدغه کاله ننوت نو ځان ورته په امن او آمان کښی ښکاره شو او باور ئی درلود چه دکاله خاوند که ځه هم په قام مومند دی بیا هم پدی هیڅکله نه راضی کیږی چه دی نور مومند وته وسپاری تاماس خان اپریدی چه دمومند په کالا کښی لږغوندی دمه جوړه کړه تو خلق له تو پکو سره هلته راورسیدل او دکاله خاوند میر اکبر خان ته ئی وویل چه ستا دزوی قاتل ستا په کاله در ننووت چه دبنارس خان غوندی یو توریالی ځلمی ئی ووژلی دی

(۲۰)

BEST COPY AVAILABLE

یوه رښتیانی قصه

له دی خبرسره سم دبنارس خان مړی هم را ورسید او میرا کبر خان دخپل ګران ځوی په دیر لوی غم اخته شو. دلته تاماس خان په ځان وویریده اوپدی پوه شوچه په لوی لاس ئې لکه اجل نولی ځان مرګ ته وسپارلی دی. دیر افسوس کاوه چه کاشکی دبل چا په کور کښی ننوتی وای او دځوی مړی له کاله نه په څنګ وای میرا کبر خان پدغه وخت کښی دیر عجیب او غریب حال درلود کله به دانتقام جذبه پری دومره غالبه شوه چه باید سمدلاسه دقاتل په ستونی چاره را کاږی اوخپل زړه یخ کړی ځکه چه ده ته داهم نه وه معلومه چه تیری او تجاوز دبنارس خان له خوا او تاماس خان دځان ساتلو دپاره دغه اقدام ته مجبور شوی دی مګر له دغی جذبی سره به دپښتو اوپښتونوالی قانون هم دده مخی ته دریده چه ډیوه پناه راوړونکی حمایت نه کول دیره لویه نامردی ده چه پښتون ئې هیڅکله تحمل نشی کولی.

ددی دوه دوله متضاد وغږښتنو تاثیر ده میرا کبر خان ځوی مړی فکر او خیال لکه ماشوم لوبانوه چه کله به ئې یو تصمیم نیه وګاڼه او کله بل مګر وروستنی قطعی فیصله داوه چه قاتل وبخښی او دځوی په مرګ صبر وکړی ځکه ئې نور ومومندونه وویل نیه ده چه تاماس خان پناه را وړونکی دبل چا ځوی نه دی وژلی او زما دځوی قاتل دی، دده بخښل یو اخی ځما کار دی که ده بل خوک وژلی وای او س به ئې ماته سانته ګرانه وه اوده حمایت به ماته په دیر لوړ قیمت تمام شوی و.

تاسی واوری چه ماتاماس خان ته عفو وکړه تاسی اوس ده ته څه زیان نشی رسولی ځکه چه دی زما پور وړی دی اوماته ئې پناه راوړی ده، زه نه غواړم چه پښتنی قانون مات کړم او هغه خوک ووژنم چه زما کور ته په دیر امید راغلی او خپل ځان ئې ماته سپارلی دی که زه داکار وکړم یوازی زمانوم نه بدیزی دتولو مومندو نوم بدیزی، تاسو باید پدی راضی نشی چه مونږ او تاسو په قومونو کښی په بدنامه یادشو او هغه عادت پریږدو چه له پلرونو اونیکونو نه را پاته دی.

مومند پدی خبرو قانع شول او تاماس خان له خپل توپک سره صحیح او سالم خپل کور او کلی ته روان شو چه دمومندو بدر گه هم ورسره وه.

Selection B

دمحمد روحاني وړاندې لیکنه

قادرخان ختګر

زموږ دتاریخ ښوونکی لۀ کلي څخه راغلی و، سهار تر څابنته به پۀ ښوونځي کښې و اویا به یې پۀ بایسکل پښه واړوله اومخ پۀ کور به روان شو کور یې د «کابل دعلي آباد» روغتون ترشادغړه پۀ ډډې و اوپۀ میاشت کښې یې پنځه سوه افغانۍ کرایه ورکوله ، دکور خاوند ژمنه ورسره کړې وه ، چې کۀ یې ددوو کوټوتر څنګ یوه بله کوټه چې تاداو یې پخوا ابنبودل شوی و ؛ ودانه کړي ، نو لۀ کرایې څخه به ورته سل روپۍ کمې کړي ځ نولۀ دې کبله به یې بایسکل پۀ چټکۍ سره څغلاوه ، چې کوټه ژرودانه کړي ، چې هم یې کور پراخ شي اوهم یې کرایه کمه شي ، سهار وختي لۀ لمانځه وروسته به هم دکوټې پۀ ودانولو بوخت و اوداووبجو پۀ شا او خواکښې دې فوتي اعلاتونو» لۀ اوربدو څخه وروسته به مخ پۀ ښوونځي راروان شو .

ټولګي ته به چې راننووت ، تر هرڅه دمخه به يې لهٔ خپلې « قره قلي » خولې څخه دوڅې وخندلې اود لاسونو لهٔ ويښتو څخه به يې وچې څڅې وتوږلې ، د لومړي کتار پهٔ يوه ميز به کښيناست ، پهٔ ستړي غږ به يې پوښتنه وکړه « ښه زمونږ لوست چيرې و؟ » ، دوو - درو زده کوونکو به پهٔ ګډو وډو غږونو دپخواني ساعت دلوست وروستنۍ خبرې ورپهٔ زړه کړې ... او ده به خبروته ادامه ورکړه . يو - دوو زده کوونکو به يې پهٔ خبروکښې ورودنګل اووبه يې ويل : ... بياهم دا زمونږ دکتاب موضوع نهٔ ده ... صيب ! خوده به خپلو خبروته دوام ورکړ ، لکه هيڅ يې چې نهٔ وي اوريدلي .

وروسته - وروسته زده کوونکي وپوهيدل، چې زمونږ ښوونکی نهٔ يواځې ښوونه کوي ، خټې هم کوي ، نو ورو ورو يې نوم د زده کوونکو تر منځ قادر خان خټګر شو ، لهٔ دې چې قادر خان خټګر ډير وخت دکوټې پهٔ ودانولو بوخت و ؛ نو ښوونځي ته به يې « مطالعې » اوبې « تياري » راغی ، زياتره وخت به دزده کوونکو پوښتنو ته عاجز پاتې شو اوپهٔ مسکا - مسکا به يې ويل : « پهٔ کتاب کښې يې ولولئ. » دقادرخان خټګر اوزده کوونکيو تر منځ يو خاص کړکيچ منځ ته راغی او پهٔ دوو درو اوونيوکښې قادر خان خټګر ته چاپهٔ ټولګي کښې پام نهٔ ساته اوان داچې لهٔ قادر خان خټګر سره ملنډې هم پيل شوې ، ځينو به يې خولې دميزلهٔ سره واخيسته ، چې پهٔ خندا خندا يې ورته پاکه کړې او ځينو به يې د کرتې لهٔ جيب څخه چې دوره پهٔ ميخ به ځوړنده وه وچه ډوډۍ راوايسته اويو لهٔ بله به يې وويشله ، نوم يې لهٔ قادرخان خټګر څخه پهٔ « قادر خټګر ، خټګر » واړول شو اوڅه موده وروسته بيخې «خټې » شو .

« خټې » ډير ښه پوهيده، چې دا کړکيچ ولې منځته راغلی ، اوس دی هغه پخوانی « قادرخان » نهٔ و ؛ خو دی پهٔ دې قانع و ، چې کمښت دده لهٔ خوادی ، ځانته به يې ډاډ ګيرنه ورکوله ، چې دکوټې ودانول به پای ته

BEST COPY AVAILABLE

ورسپرې اوده ځوان زوی « قسيم » به چې لاتراوسه پۀ کلي کښې و راشي اوځانګړې خونه به ولري ...

کلني امتحان ته لا څلور مياشتې پاتې وې ، چې دښوونځي سرښوونکی « ختې » خپل دفتر ته چې راز راز شعارونه پۀ کښې ځوړند وو ، وغوښت او دنالايقې اوبې کفايتې پۀ نامه يې ځواب ورکړ !

اودا هغه وخت و چې دخونې ودانول هم نژدې پای ته رسيدلي وو . ختې هيله نۀ درلوده ، چې پۀ خپله دنده پاتې شي، ان پۀ دې سوچ نۀ و، چې دکورلګښت اوکرايه به لۀ کومه کيږي .... پر بايسکل سپورشو اوځوان زوی ته يې کړې ژمنه ورپۀ ياد شوه .

« ختې » دعلي آباد روغتون تر شا دغره لمنې ته راورسيد اولۀ بايسکل څخه کوز شو، پۀ ستړيا سره يې ګامونه مخ پۀ کورايښودل ، ختې لاکور ته نۀ و رسيدلی، چې کوچنې لوريې « ميمونه» پۀ منډو منډو مخې ته ورغله اوويې ويل : « پلاره! پلاره، مورمې خبره شوه، چې زموږ پر کلي بمباري شوې ... هغه ژاړې ختې پۀ وارخطايې سره کورته راورسيد ، مخ يې شين و اودتندې ګونځې يې لاژورې ښکاريدې، ښځې پۀ چيغو چيغو او ژړا ژړا دده ځوان زوی دشهادت خبر ورکړ .

دی پۀ داسی حال کښې چې ريږديده اولابې وسه ښکاريده « ودانې » خونې ته ننووت اودزړه لۀ کومې يې ژړل .

اوس « ختې » اوکورنۍ يې سرحدي سيموته نژدې پۀ يوه کمپ کښې اوسيږي ، دشهيد زوی دعکس قاب يې په يوه وسپنيز صندوق کښې ايښی او د مهاجروپۀ يوه خاورين ښوونځي کښې ښوونکی دی . دی بيا تاريخ لولي اوزده کوونکو ته په مينه مينه ښوونه کوي ... اوپۀ دې خوښ دی چې پۀ کابل کښې يې د« تاريخ ماترياليزم» دزده کړې اوښوونې پۀ ځای ختې کولې اوپۀ ټولګي کښې يې د زده کوونکو پام دخپلې کرتې او« قره قلې » خولې دورو اوختو ته اړولی و .

BEST COPY AVAILABLE

بسم الله الرحمن الرحيم

آدم دُرخانئ

دُرخانئ په صوات کښ د بري بازدري د يو طاوس خان نوم پښتون لُور وَه چه خداي ډير لوي ښايست ورکړي وهٔ. او د بابا خان نوم يو پښتون هلک چنغله وَه. يوه ورځ د دُرخانئ د ترور د لُور وادهٔ وهٔ. په هغي کښ ئي د کوزي بازدري يو آدم خان نوم خانزاده باندِ ستر ګی خوښي شوي. ټپ له دواړه لاس خيټزي هغهٔ هم پر باندِ زړهٔ باباود. دي اور داسي لمبه وکړه چه د وادهٔ خلاصيدو او د ميلمستو رخصتيدو نه پس دوارو په لاره کښ هرُو مرُو يو بل ته په غلا غلا وکتل. ماسخوتن په حجره کښ چه آدم خان يوه کُته رباب وُوهلو نو يو سور اسوبلئ ئي وکړ. او مټرو ټلو خپلو خوږو يارانو ته ئي د زړهٔ حال وُوِ. د هغهٔ دا مراد وهٔ چه په دي شپه د اشنا ديدن ته لاړي. پر دو کورونو ته تلل د خالصي دل نهٔ وُو. ولي مټرو ټلو هم ورته حلال کړي چرکان وُو. سمدستي ئي ملا وترله او شپه په شپه بري بازدري ته لاړل. ټلو ئي چرته د خوکئ دپاره ودرولو او دوئ دواړه د دُرخانئ کور ته ورغلل. مټرو ورته ورښئ زړ ګودر صحيح کړي وهٔ. آدم خان د اشنا کټ ته

ورسید - دُرخو تار په تار په پالنګ اُوده پرته وُه - څنګه ني سپورتي او یونیم ستوري ئې په غلا غلا دیدن کولو - دهٔ یو ساعت په غټو ستړکو ورته وکتل - چه نهٔ زوړ زیر ئې وُویست نو روغوندِ ئې د ښپې کتنه ګُته تر نه وتیوه او وینبه ئې کړه - چه دُرخو ستړکې وُغړولې نو هغه بشړه ورته ولاړه وَه چه د چا په حال کښ اُوده شوې وَه - حیرانه شوه چه دا خوب دَی که ویښه - خو ګاله ئې ستړکې ومښلې او یا ئې وُغړولې چه نهٔ یقین ئې راغئ نو پاځیدهٔ - او وَرترغاړه وَته - غوږ کښ ئې ورته ډیر ډیر هرکلئ وکړ - او بیا ئې د خپلې مینې دفتر ورته پرانست - په خلقو لویه شپه تیره شوَه او په دوې د ستړکې زپ وهٔ - بیړه شپیلئ وُوههٔ مظلب ئې دا وهٔ چه چرګانو باګونه وُو - مُلایانو اَخ توخ جوړ کړ هسې نه چه شرمیدلې جوړه شي او د اوښ په شا مو سپئ وُ نهٔ خوړي - آدم دُرخانئ د اوښکو وکې ستړکې یو بل نه حُدا شول -

دې نه پس د آدم خان د عمر مزه ورکه شوَه - او رو رو داسې له برمه پریوت چه کټ ئې ونیو - په دُرخانئ هم خپلې مینې زور وکړ - چه صبر ئې خلاص شهٔ نو یو څل د استاد په خوله او یو څل د دائې په خوله څه نیمې ټپانې او سوال جواب ئې ولیږهٔ راولیږهٔ - پس له دې پاچاؤ هم زر تر زړه وادهٔ جوړ کړ او د دُرخانئ دولئ ئې راوړه -

آدم خان ډیرې ایرې په سر واچولې او ډیرې خاورې ئې وُنوستې - آخر ئې خان بې شرمه کړ او خپل پلار حسن خان ته ئې غټ پریکړې وُو چه که څه زوند و پکار وې نو دا بې له دُرخو نه ګران دَی - حسن خان ته دا خبره د پښتو په مذهب کښ ناروا ښکاره شوَه خو د زوي مینې هرڅه ته تیار کړ - هند و د یار د پاره د غوا غوښې خوړلې دِي په خپلو عزیزانو کښ ئې یو میرمانې نوم پښتون وهٔ چه په پیسه او پښتو کښ ډیر تکړه وهٔ هغهٔ ته ئې پټکې په ښپو کښ وغورزَوهٔ وُ ئې و چه په خدای به شې په تا به شې د دُرخانئ د راوستو څه بند راته وتړه - هغهٔ ورسره په بړه بازدره لښکر وکړ او مراد ته وُرسید دُرخانئ ئې په زور راوسته -

آدم خان دُرخانئ میرمانې کړه کښینوله د زړهٔ غوندې ئې په خاې کړ - ولې پاچاؤ هم آخر پښتون وهٔ قام ورپسې وهٔ - خو دائې "چه په کُړه مړي نو په زهر و ئې څه له وژني" - میرمانې ته ئې ډیرې روپئ ومنلې او هغهٔ دا پې ټکې وکړه - چه دُرخو ئې پاچاؤ ته لاس نیولې ورکړه -

یوه ورځ د میرمانې زوی کوجرخان ته آدم خان څه کِله کوڅه وکړه - هغهٔ یوټکې څه چل وکړ چه ټول قام ئې د پلار نه په دې بیغیرتئ وارولو او بیا ئې د آدم خان ډیارهٔ په بړه بازدره لښکر وکړ خو پاچاؤ هم څه د هاتې په غوږ کښ اودهٔ نه وهٔ - ورته راځکښ شهٔ - او د دوارو قاموښ یوه ټوټه

چنګ ښه وشه. خو کوجرخان مانۍ وکړه خلوینت کس سړي ئې مړه شول. بلو هم په کښ سر ورکړ. آدم خان باندې یو حنم نه دوه شول.

خو ورځې پس د هندوستان پاړوکان چرته د آدم خان په ځړه راپیښ شول. چه د آدم خان ئې داسې بد حال ولیدل نو ټوس ئې وکړ. میړه ورته قصه تیره کړه هغو د دیدن دمنه وُوهله. "روند د خدای نه څه غواړي دوه سترګې". آدم خان او میرو جوړې جامې واغوستې، سرونه ئې ښه کړل او کنډوې ئې په ښپو کړې د پاړوکانو بالکیان شول. تلل تلل په ښه بازدره ورغلل. د پایاؤ په دیوډئ کښ ئې پیټارونه کوز کړل د مارانو تماشه ئې جوړه کړه. د ښین په اواز دیر هلکان جنکئ او نر ښځې پرې راغونډ شول. پایاؤ هم ورته راوُوت. دُرځو هم تنبې نیکټو کړې اشنا سره ئې د سترګو هرکلې وکړ "چا مارانو کتل او چا یارانو".

پاروکانو پایاؤ نه پنډاره واخسته او کور سره یو باغ کښ ئې دیره ونیوه. هر چرته چه به کرزیدل خو دلته به راتلل. دُرځو به هم وخت بوخت باغ پلو نخ ښکاره کولو. خو ورځې پس پایاؤ پرې بدګمان شه او دوي ئې له باغ نه وُشړل. دا اسره هم بسره شوه.

لږې ورځې پس آدم خان مخنۍ وُوهلو او تبه برېښ ئې ملګرې شول. په دارو دُرملو څه ښیګړه وُنه شوه. او آخر ئې

له دُنیا نه سفر وکړ.

چه د آدم خان د مرګ خبر وګرزید او دُرځو پرې خبره شوه نو سمدستي په زمکه راپریوته سترګې ئې حق نه ونیولې خپل پردې پرې راټول شول لاس ښپې ئې ورنه ومښل. سپیلۍ ئې ورته لوګئ کړل نظرونه مات شول. لنډه دا چه دم، دُعا، بند، تعویذ هر څه خلاص شول خو دُرځانۍ وه چه ساه په کښ وُ نه غږیده. ښه ټمنه شوه او ټمنه پاتې شوه. چا هوښیار بنده چه وکتله نو روح ئې ښځوا الوتې وه.

دا خبره هم مشهوره ده چه دوئ دواړو په مړوني قبر کښ یوځاي شوي دي. خو دا رانه هسې د پاړانو کپ ښکاري چه خلق ئې د خپل زړهٔ خوښحالولو دپاره وایي.

دا هم خلق وایي چه د آدم خان د قبر وګې نه چې څوک شهباز جوړ کړي نو رباب ئې زر زده کیږي. والله اعلم.

BEST COPY AVAILABLE

قبر

چه کوم وخت ما ته چا اوویل چه ټولو پذیرمر شو، نو د انّا لِلّٰه و انّا الیه راجعون نه پې ناخلې دغولې نه اوختل چه "قبر کښې ښخ کړې شو؟" دا توپوس پې خکه اوکړو چه هغه به د قبر نه ډېر زیات ویرېدو، هغه چه به د قبر نامه واورېدله نو داسې به پاره شو چه د سپی په ټوئ پوهه شی، هغه به هېڅه مزل په منډه کولو او که لږ به پې مزه شو او چا به ورته اوویل چه پذیر کاکا! په اډیره ورغلې نو هم داسې به پې سل ځ پاره شو.

هغه اوس بنه ټوډا او تک قور، تکه سپینه ږیره، شنې شنې وړې وړې سترګې، وږوکې تندې، پنځه فټه قد، لنډې د هغه به دا عادت وو چه کوم وخت به ټې منډه کړه نو په چنه به ټې ویل، هغه دې قبر ــ دا وې نیسئ" او د سترګو په رپاکښې به د خلقو د نظر نه غیب شو، هغه ته که به چا د قبر او یا اډیرې نامه وانخسته نو که هغه به په اډیره کښې روان وو نو هم به پې په خات نه پوهېدو، خو چه کوم وخت به ورته چا اوویل چه ټوپیه! قبر دې نو بس بیا به ټې اچولی وو۔

ټولو پذیر که هرڅومره د نابلدۍ کساوۍ په نظر کښې ټوپه نخه وه ولې بیا هم چه هغه چا ته معلوم وو نو د هغوی ورسره ډېره زیاته میشته وه، چا په تعظیم او تکریم نه پوهېدو۔

خدائې شته چه ځما په نظر کښې خو ډېر زیات مظلوم وو، ځما ډېر زیات خوښ وو، ځما زړه که به ډېر غوښتل چه زړه دې دوسره خبرې اترې اوکړم او پوځل دې د ډډه د خولې نه هم دفه نه چېرېدونکې قیصه واورم، خو ځما دفه ارمان دهغه ترمرګه پورې نه شو، او هېڅه چه چرته به د هغه نامه چا مجلس کښې واخسته او یا به ما له ټې له راغلو نو ځما په ذهن کښې به هغه ټوله واقعه تېره شوه او د واقعې د تېرېدو سره سم به ځما زړه نو هم درد اوکړو۔

BEST COPY AVAILABLE

۴۴

دا هغه د ښوماتیا که هر څومره خبرې مشهورې وې، خو د
ټول پیښ حقله د هر نیات فراخدل وو، هغې چه کوم وخت د
کلي اُستاذي سره قرآن شریف ختم کړو نو د ټول کلي د جینکو
نه ټې د اُستاذې نیات مدد اوکړو، د اُستاذې درسره هم
دومره میشه وه چه هغې نه ټې یواځې قرآن شریف او نه
ښودلو بلکه د پښتو کتابونه او د پښتو خط ټې هم ورته
اوښودل او د پښتو په خط کښې څو هغه دومره ښکره وه
چه اکثر به خلق په هغې خطونه لیکل ـ

د خدائ قدرتونه وو چه څومره پذیرکا بد رنګ دو
نو هغومره ټې ټول بنائسته وه، هغه اوس بنه مکمله پېنځه
وه، د هغې د حُسن خبرې هر ځائ مشهورې وې، ولې تقریباً
د شلو پنځویشتو ورځو نه پرې د پلار څه شک پیدا شوې وو
ځکه چه هغه څوکرت د شپې د بندګ کټ خوشې لیدلې وو
او هم د دغومره موډې نه به مسلسل د څلاستو په وخت
کښې د هغې سر ته تګ قدر څادر پروت وو ـ

۴۵

په دغه شپه خو ټې مکمل یقین راغلو، ځکه چه د څو ورځو
نه دا خبره مشهوره شوه چه د شپې شومه دم شی نو د
دغه کلي نه د میاں رحمان بابا ادیرې نه یوه بنځه په ټوله
څادر کښې وې ـ او د میاں رحمان بابا منجور خو بیا تر دې حده
پورې د دغې واقعې تصدیق اوکړو چه کوم وخت شومه دم شی
نو دغه کلي نه یوه جینۍ په تګ قدر څادر کښې راشی او د
میاں رحمان بابا نه اخوا د یو قبر خواکښې د زقوم بوټو ته
لاړه شی او چه لږه شیبه تیره شی نو د دغه ځایه یو ځلې
غوندې سړې بهر ته راوځی او هغه جینۍ هم هلته پاتې شې

خدائ خبر چه د دغې جینۍ او هلک ملاقاتونه به د
څومره ورځو نه هلته کیدل خو اوس پرې خلق خبر شول، او
بیا چه د میاں رحمان بابا منجور یو درې شپې مسلسل اول
دغه جینۍ او بیا هغه ځلې اولیدل نو خبره سمه مشهوره شوه

هغه ټن د ماسخوتن نه د بندګ قدر څادر په ټنځنه کړې
وو، ټن د هغه پوره یقین دو چه نۀ به په خپل مقصد کښې

BEST COPY AVAILABLE

کامیابیږم -

نن سبا دهم څه شکی شوې غوندې وه ، هغې د پلار
د ویښې او لهجې نه پته لګولې وه ، هغې ته هم د خپل ځان
انجام معلوم ؤ ، هغه په دغه خبرې پوهه وه چه دراندې څه
کیدونکی دی ، ولې هغه اوس هیڅې نه شوه واپس کیدې
د هغې په زړه چه د کوم مینې هور بل وؤ هغه اوس هغې
هیڅې نه شو مرکولې ، د هغې هر قدم د خطرې ؤ ، خو هغه
په دې هم بنه پوهه وه چه که په دغه وخت کښې زړه د
خطرې نه اوویرېږم نو خدائ پاک به رانه پښتنه کوی.
هغې ته هغه خپل لوظ او اقرار بنه یاد وؤ ، هغې ته
هغه وخت هم د سترګو د وراندې ؤ چه کوم وخت هغې
د یو څوکسانو په وراندې لوظ کولو او اول ورته هغوی هغه
قولې پېښېدونکې خطرې اوښودلې کوې چه به خامخا.....
پېښېدونکې وې

هغې اقرار نه پس
تر نن شپې پورې هغه پاتې نه شوه . هغه به هره شپه
په خپله مینه کښې لهولې په خپل مقصد پسې وته .
خدائ خبر چه ولې هغې خپله مینه د پلار نه پټه
ساتله ....! د هغې زړه ولې په خپل پلار زړور نه وؤ ...!
د نن ..... نن هغه بالکل نه شوه پاتې کیدې ، هغې
به خواه مخواه ځان رسولو ، د هغې په وجود د مینې لمبې
نورې هم تېزې شوې وې .
د هغې دغه وخت نو هم شک زیات شو چه د نور

BEST COPY AVAILABLE

۴۸

کله اړنه ځي پلار مخکښې اوده شو، او خلاف معمول په خوب
کښې خوږېدو، خو بیا هم هغې خپل توره څادر په سر واچاوه
او د بالښت د لاندې نه ئې څه کسورې غوندې راواخسته،
لاس ئې پکښې اووهلو، یو کاغذ ئې ترینه راواویستو، غلې
غوندې ئې ورته وکتل، لکه چې د خپل زړه شک ئې
ویستو او بیا ئې پکښې واچاوه ــ او د پنجو په سر د کوره
راووته، او که پذیرې کاکا د هر کوشش کولو خو هغه په
لاره دومره ټینګه روانه وه چې که هغه ته هغه ځای نه
وې معلوم نو خدائ خبر که به ئې لاندې کړې وه۔

پذیر نیغ اول ځان منجور ته راوړسولو او چې کوم وخت
په توره شپه کښې منجور یو مندې غوندې سپورې توپک په
لاس اولیدو نو د هر سخت هیبت پرې راغلو، او که چې
پرې اواز نه وې کړې او هغه پاڼ نه وې
خبر چې په هغه به څه تېرېدل۔

پذیر کاکا غلې غوندې منجور ته اوویل، راځه ځو

۴۹

ځائ اوښایه، کوم ځائ کښې چې هغه بنځه او سړې
ځائ کیږي۔"

منجور هغه سړې روان شو او چې یو څو قدمه د میاں بچا
نه په وړاندې شو نو وراندې د زقوم د ونو
رګې بوټې وو، دوی چې غږ کښو نو څه کش کش کېدل
پاڼې منته به تېر شوی نه وو چې د هغه ځائ نه
غر غوندې سپورې راووتو او نیغ په قبرونو کښې دوی
ته روان شو، چې یو څو قدمه دوی ته رانږدې شو
دوی اوکتل چې هغه په برېتو ګټې اووهلې او د یو طرف
ته بېتابه بربت له ځې تاؤ ورکړو۔

د پذیر بنه یقین پیدا شو چې دا هغه ځاې دې چې
هم له ځانه راځي، دغه وخت د هغه د توپک د شپېلې
غږ هغه ځاې راغلې وو چې چا د هغه په خیال د هغه
پاڼ او غیرت د پښو لاندې دَل کول ــ د پذیر سر چکر
واړه او هغه وخت په ځان پوه شو چې کوم وخت د

BEST COPY AVAILABLE

ترڅو سره د دې د توپک د شپیلې نه لمبه اوخته او دې
په سینه ورننوته ـ او د یو "وئ" سره د یو قبر د پاڼ
وړپرېوتو۔

جغه په منډه د زخم ټوتو ته لاړه، د یو قبر په خوا
کښې ئې د خپلې لور تور څادر او څه نور غوښتلي غوښتي
پښتونکي اولیدل، کېر چاپېره ئې اوکتل، یو څوچې ئې د تبلې
"بدرو" اووهلې ولې هیڅ په پته پوهه نه شو۔

او په کوم وخت واپس راغلو او د خلې د سرنه ئې
پټکي راکښلو نو د سر وېښته ئې داسې دانه دانه شول لکه
چې د مور د مرګ نه پس به ورله کله کله پلار په کومزه
دانه دانه کول ـ او یو څو دانه دانه کاغذونه د باد
چوپ سره داسې یوخوا بلخوا الوتل لکه چې دوی د برطانوي
د حکومت خلاف انقلابي وو چې خپلې سرغړنه پېښلې دلته
اطلاع ورکوله ـ

BEST COPY AVAILABLE

Unit 4: Poetry

Selection A (Partial): Ulfat

مات کودړی

(۱)

دکودړ په غاړه پروت ؤمات کودړی
ویلې زه وم روغ منکی کلال جوړ کړی
دلته لوبوکښې زه مات یوه زلمی کړم
یوې پېغلی په اوږه وم راوړی

(۲)

دجهان هره ذره کښې عشق عیان دی
مات کودړی یره هم دعشق داستان دی
دې مین پټې کودړدی یوځای شوی
دې منکی دلته مات شوی لندبیان دی

۱۶۷

خوشحالی

کور وکلی کښې سکوت او قراری وه

نه خندا وه نندۍ وه ورکوشه مستی وه

یوناڅاپه راپیدا کوم لسهونی شو

چه کتل مې په کوشو کښې خوشحالی وه

۱۸۴

Selection B: Ghani

ای زما وطنه!

ا ي ز ما و طنه! د لا لو نو خز ا ني ز ما !
ستا هره ډره کښې دی د تور ونښـا ني ز مـا

زه يم ستا د خاو ري ته زما د مينې جو ړ ئې
ته مې د غيرت ا و د پښتو ر نګينې جو ړ ئې
ته مې د نيکه ا و د با با د و ينې جو ړ ئې
ستازړه کښې ويښې دی ټولې ټلې زمـانې زما
اې زماوطنـه دلالونو خزا ني ز ما !
ستر کې مې لو ګی شه ستادخاورو د کورونو نه
عقل مې ا ير ي شه ستا د پا ره دفکر و نو نه
ځارشمه قربان شم ستاد غرونونه سينـو نـونه
ستا هر ه ډره کښې دی د تو ر ونښـانې ز ما
اې زما وطنه دلا لونو خزا ني زمـا !
ستاعزت چه نه وی زه به نوم اوعزت څه کړمه
ته چه خوار اوزار ئې زه به خوب اوراحت څه کړمه
ستاسر چه وی ټيټ نو به زه شان اوشوکت څه کړمه
مسته به دې خاوره کـ م په وينې مستانې زما
اې زماوطنه دلا لونو خـزانې زما !
يا خو به د ې سيا ل کړمه و طنه د جها ن
يا به ستا په پښو کښې توري خاوري کړم داځان
ز ه به د ړې و ړې شم خو تا به کړم و د ا ن
نر يمه پښتو ن يم تا ته يا د د ی ا فسا نې زمـا
اې زما وطنه دلا لونو خـزانې زما !

BEST COPY AVAILABLE

Selection C: Benawa

(۳۲)

دګو ستا ن شفق

هند و کش په سر لښې دی که آسمان سره کناره ده
دکوم‌سوی زړګی آه دی یا د و ینو څو ا ر ه ده
که چنګیز د عصر تو ر ه چه‌له‌تهسکی را ښکاره ده
یا خوبل د مینی اورد ی
د فلك پرې سوی کورد ی

سکندر د وخت شهید د ی په‌حسرت کوری بګرام ه
یالیوال روح دعاشق دی چه و ر لحی د یار سلام ه
یا وا له د سر و ش ا بو چه تو ئیزی یوه جام ه
دا میدا ن د کربلا د ی
که سالو سور دلیلا د ی

دا زړګی دآسمان وچا ود که سینه د د بو ا نه د ه
یا ساقی له لا سه ښکته چیه شو ې پیمانه ده
او که‌درس دعبرت لیك د ی ښه ر نګینه ا فسا نه ده
مو نږته یاده‌جا بازی کړی
دنیکونو سربازی کړی

BEST COPY AVAILABLE

۳۵

سپین غر

جـگی جـگی ساقی را شه — د خوږمن ژړ گی په خواشه
ستا له سر ه سیلـنی شم — تر سروستر گودی واړی‌شم
راته خا نده را ته داد کړه — بخیل داد بې وزلی ښاد کړه
زما لو ری ته ډېر ډ ېر شه — تر بې در د عالـم راتېر شه
په پیا له می کـړ ه نمنخنه — را نه لری کـړ ه پو هـنه
چه خراب مست د یوانه شم — لـه جهانه بیگا نـه شـم
سوزو سا ز د مینی را کړه — لیو نی‌عشق را عطـا کړ ه
چه در دمن سره یاری کړم — له بې درد وجـدائی کـړم
روح آزادزړه‌می‌خوشحال‌شی — پاك له خیرو له جنجال شی
لکه موج مست‌می گذروی — طو فانونه مـی په سر و ی
کور دظلم وستم وران کړم — لوړ اوټیټ سره یکـسان کړم
تر تا و گـر زم را پور ته — ساقی مـه کو ه لخند نور ته
هله را کړه د تـاك و ینه — چه مـی بخه شـی‌بـرې ښه
هغه تا ك چـه ټې ر ود لی — دسپین غـر شید ې سپـغلی
په سر سبز و شنودرو کښی — په‌جاری ډ کـو شپلو کـښی
دډ بـر و لـه بیـغـو نه — له خو ږو سپـینو چیـنو نـه

BEST COPY AVAILABLE

چه‌سین‌باز غوندی‌پرواز کړم دسین غره نغمه آغاز کړم
په نغمه کښې مې شر ر را مسیحاغو نډ ی ا ثر را
چه‌دا مې قوم‌بیاژوند ی کړم ورته هیڅ خپل و پردی کړم

خلاص ئې کړمه له ذلته دغر ور له بد غفلته
لږ تکان وخوری بیدارشی دخپل ژوند په کارو بارشی
بدې پوه‌شی‌چه‌ژوندون‌اوس غواړی بل رنګه‌افسون اوس
نه خلا صیږی په وینا هوك په مې انه د با با هوك

لابه هو فخریه بلاړ کړی یا په نوم د خپل تبار کړی
ولاړی، ولاړی، هلا کیږی که‌مغرور شوتباه کیږی

ساقی پاڼه بیاله را کړه له اور ډ که می و بنا کړه

چه ددې غره په امن کښې په‌ډې لوی دښت و د من کښې
په‌آواز می ز لمی را شی بیاد سین غره شاو خو ا شی
پښتنو جر ګې شی غو نډی مر کې ئې هر ځای پو نډی

په‌یو زړه په یوه خوله شی یو له بله سر ه مله شی
داخراب کور بیاودان کړی په‌دنیا کښې‌ښکاره ځان کړی
بیله فر قه یو ملت و ی بیلتو ن نه‌وی‌ټول وحد ت‌وی
و سین غره ته له اسما نه د نیکه روح شی ګویا نه :

« د لته ز ی د غر و لمنی ز مونږ کیږی‌مړی‌پکښې‌پلنی
داو ګړی ډیر ګړې خدایه !
اویه‌خدایه، اویه خدایه !!»

Selection D (Partial): Shinwaray

تل به په لار د میړنو سره خُم — یمه پښتون د پښتو سره خُم
د ملیّت نمره د پرځې ښکیر — ستا د دې شوخو پلوشو سره خُم
د اچه خړ د هم په ملّت خاروی — زه د هم د اسې لپونو سره خُم
پام کوه زه شعله نظر نه یمه — چې به په دو د سپینو سره خُم
وائی اغیار چې د دوزخ ژبه ده — نه به جنت نه پښتو سره خُم
راستنیدمې چې نشی وخت خو نه یم — خو د حالت د تقاضو سره خُم
لاخو مے ستړې په نمخانه پرانه دی — نه لکه غږ د پریوتو سره خُم
کړم جهان چې د پښتون ځلی — د خپلو پېغلو حوصلو سره خُم
وړم مُستقبل ته د ماضی روایات — زه د خپل حال د ولولو سره خُم
څوچې راغونډ په یو مرکز ئ نه کړم — هرې پتې ته د جرګو سره خُم

لوڑکی

حمزه سفر که د حجاز ی نو هم
زه د پښتون د قافلو سره خُم

۱۰ ۶/۴

دروغجنه مينه

درته يادپي هغه سره‌ګلونه
چې دې او بوکې اينبو دل په مينه
ترسترګو لاندې دې کتله راته
تاويل دا به زمون د مينې اوګرانښت شاهدوی
يوه ګړۍ ووېسته مې
غېږ ته راولوېدې
خوره وره سوې
اومچولم دی ،کښې کښلم دی
زېښبلم دی هم
شپه ترسهاره يو دبل په غېږکې اوښتلو
راته يادپي دې زګروي
او خوبولې سترګې

شپه وه سهار سوله رخصت مې سوی
له سترې غېږې
ته پوهېدې چې بيا به ونه وينو
زه پوهېدم چې راستنه به نه سې
راته دې پرېښودل څومراوي او خزان ګلونه
هسې بې روحه اوخزانې پاڼې
لکه احساس د دروغځې مينې
لکه پيلمې د هېرو سوو وعدو

کوټه
۱۹۸۸/۱/۱۱

BEST COPY AVAILABLE

رسوا راز ونه

هېرې به مې نه سي چې دې غټې ستړګې پورته کړلې
پاس دې آسمان ته کتل ،
اوښکې روانې دې سوې اوښکې پرمخ
ور پسې نورې راغلې
د مرغلرو دکاروان په رسم
وخوځېدې
اودګرېوان آشنا منزل يې واهه
ما په حيرت۔ حيرت کتله ورته
هغه ګړۍ هرڅه رسوا سوه هرڅه وسپرېده
د نمکې خندا افسون څه پټولای نه سو

هرڅه دې وويله ،
په هرڅه وپوهېدم
خو زه بې وسه وزر وچه مرغه
زه د تقدير قفس ترلې ومه
زه ستا پر لور د الوتلو نه وم
ځکه مې اوښکې پاکولای نه سوای
ځکه مې تشه نندارې کوله

کوشټه
۱۹۸۸ / ۲ / ۱۱

76

BALLADE DE MUHAMMADJI.

چاربیته د محمدجی

1 بیکا ږ دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو
زه کد لکه بورا شوم په بازار د تورو زلفو
بیکا ږ دی سیل کړی ستا د زلفو باغچه کښِ
کد لکه بورا شوم د انارو په چرچه کښِ
خښ ږ کړل غاښونه د نرئ زنی سوچه کښِ
بل بوی ږ کړد شاه د غاړی هار د تورو زلفو
بیکا ږ دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو
زه کد لکه بورا شوم په بازار د تورو زلفو

2 چه هار د خما بوی که یاره ته پری مست بنکی شولی
اوده لکه بهرام د سراسیا په پلنګ شولی
اخر به دِ څوك مړکړی غل خما په اننګی شولی
اوس دیر درته تهږیږی څوکیدار د تورو زلفو بیکا ږ

3 دیر راته تهږیږی وړی رب به ږ ساتی کنه
ته راته اوس سم که دَ اوږدو زلفو لختی کنه
سپینه خوله دِ راکړه مور ږ که لکه طوطی کنه
بو څله ږ کد که په انبارد تورو زلفو بیکا ږ

4 تا به کرمه داخل زه یاره د سپینی سینی باغ کښِ
ته به څی یاغی له ما به کرزی په دماغ کښِ
سپین مخ چه بنکاره کړم زنږا وروکه څی چراغ کښِ
ربه لاله راکړی بنه سنګارد تورو زلفو بیکا ږ

5 رب د له درکړی دی دیر حسن ی شمارہ
نظر وکړہ نیازبینی هم بهی نوکر ی تمهارا
پروت په صحدم درته لیږلی وه ربباره
په زړه باندی چیچلی یمر بنامارد تورو زلفو بیکا ږ

6 بنامار له به زه دمر کړم وروکیهٔ هودیدارہ یمر
مکر زه زهیر مکښته ستا په پت کښِ پاره یمر
زه چه څو پکلی نه زه موزی نه او یزارد یمر
ما ټول دله درکړی بنه اختیارد تورو زلفو

7 اختیارد محمدجی دی د پکلی په شاعرانو کښِ
قلنګ ئ که جاری اوس د دیلی په امیرانو کښِ
ملك ئ که رعیت چلوی یه بارد تورو زلفو
بیکا ږ دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو
زه کد لکه بورا شوم په بازار د تورو زلفو

Unit 5: Public Pashto

Selection B

BEST COPY AVAILABLE

BEST COPY AVAILABLE

Selection E

زیری

د فرنټیئر پوسټ یکسر مډیا
بحوبل افتخاری مدیر او چیف ایډیټر

له دې ورځې څخه په خپله مورنۍ ژبه میرمنو پښتنو
دا ارمان وکړ چې دوی هم خپلې ملّي اخبار اووه ورځنۍ

میرمن

ورځپاڼه شي دا د خدای پاک ځ زمونږ ټولو دغه زوړ
ارمان اوس راپوره کوي انشاءالله الرحمٰن د هر ژوند به له تازه
تازه کورنو او بهرنو بین المللي خبرونو، غوره تبصرو، تجزیو
او ادبي، کلتوري، سیاسي، تاریخي او رنګارنګ لیکونو او
مضامینو سره راووځي. لږ انتظار وکړئ.

BEST COPY AVAILABLE

دپامترنی وړ !

درنو اوریدونکو دافغانستان دمجاهد غږ راډیو خپرونه
هره ورځ دسهار له ٦.٣٠ بجو څخه تر ٨ بجو پوری .
اودماښام له شپږو بجو او ١٥ دقیقو څخه تر اتو بجو
او١٥ دقیقو پوری دگردیز لپاره په منځنی څپه ١٢٠٠ کیلو
هرتز اوپه لنډه څپه ٣.٢ میگاهرتزچی له ٩٠ متر بیند
ســـــره ب ا جره خـــپرږي.

BEST COPY AVAILABLE

Unit 6: Letters and Memoranda

Selection A

گرانه صاحب

السلام علیکم —

ستا خط راورسید و — په لوستو ئې خوشحاله شوم —
تسلي م اوشوه چې ته ٔ بې همته نه ئې بلکه د لوړې ارادې او اوچت
همت خاوند ئې —

زه ٔ دا لوظ خو درسره نه شم کولې چې ګڼې ستا دغه
کتاب چې کله ته ٔ راجمع کړې نو د اشاعت نه به نه ٔ پاتې کیږي — ولې
دا به درته اووایم چې که چرې ته ٔ دا زیار اوکړې او مسوده ئې تیاره کړې
او ماته ئې راواستوې نو انشاءالله چې زما به دا کوشش وي چې ته ٔ په خپل
دې تکل کښې ناامیده نه شې —

څه به ښه وي که ته ٔ د خپل دغې کار یوه خاکه شان چې
په هغې کښې جدا جدا بابونه وي تیاره کړې او مونږ ته ئې راواستوې چه
مونږ ه ئې اوسنجوو ٔ او تاته یې خپله رائې درواستوو ٔ —

والســـــــلام

BEST COPY AVAILABLE

Selection B

گرانه صاحب

السلام علیکم —

ستاسو خط راورسید و — د یادګیرنې او پښتو سره مو د مینې لړیره لږیره ښکاره شوه —

عرض دادی چه د پښتو رسالې سالانه چنده مبلغ شپیته روپۍ ده — خو عرض دادی چه د څه وجوهاتو له کبله په چاپ کښې لږه روستو شوې ده او تر تنه تر جون ۱۹۹۰ اع پورې پوره د شپږو میاشتو په یو ځائې چاپ شوې ده —

که خبر وې هغته نیمه کښې به پوره د یوکال یعنې جولائی ۱۹۹۰ اع نه تر جون ۱۹۹۱ اع پورې رساله چاپ کیدونکې ده —

تاسو مهربانې اوکړئ او مبلغ شپیته° روپۍ سالانه چنده د منې اردر په ذریعه راولیږئ او کله هم چې ستاسو رقم راورسي نو انشاءالله ستاسو په نوم به دغه د یوکال رساله درواستولې شي او دغې سره به ستاسو سالانه چنده هم ختمه شي خو د بل کال دپاره به بیا مبلغ شپیته° روپۍ راولیږئ — والســـــلام

BEST COPY AVAILABLE

Selection C

گرانه صاحب

السلام علیکم —

امید دي چې روغ‌جوړ اوبه خیر به ئې —

خط دي راغلي دي — اوم لوستو دیر پرې خوشحاله شوم

په پردیس‌کښې د خپلې ژې او خپل قوم په حقله د ژوندي احساس د

جذباتو نه دي خبر شوم — الله پاك دي دغه جذبات تل قائم و دائم لره —

زهٔ پوهه نه شوم چې په تاریخ او ادب تهٔ کوم قسم کتابونه

خوښوي ځکه چې دا د دواړه دیر وسیع میدانونه دي — البته دا کیدي شي

چې د پښتو اکیډیمي د مطبوعاتو فهرست مونږ تاسو ته درواستوو اوبه خپله

ئې یو نظر اوګورئ بیا نو چې کوم کتابونه ستا په طبع راست وي د هغې آرډر

به دي اداري ته راواستوي —

امید دي چې بې تکلیفه به درواستولې شي — والسلام

BEST COPY AVAILABLE

Selection D

محترمي خورا!

خدائي د ښاده اوابادە لره —

خو ورځي کيږي ستا يو خط سره د خادم صيب مرحوم د نصوص الحکم يوي فوټو ستيټ نسخي ماته راکړي شو — چې پکښې د هغوي د خوند ورو رياعياتو خزانه محفوظه ده — بې کچه ډيرې خوشحاله شوم چې دا نادر اثر تر دي ځايه راورسيدو — تاسو چې د دي د اشاعت په حقله کومه عنديه ښکاره کړي ده — دا يقينا چه ډيره لازمه ده — زه نه پوهيږم چې ستاسو غرض دا د پيښور نه شائع کول دي اوکه نا دغلته په امريکه کښې د خپرولو څه اراده لرئ —

بهرحال ماته چې کله وخت په لاس راغي نو ضرور به د تبصري د ليکلو دپاره ستاسو په خواهش عمل اوکړم —

اميد دي چې روغه جوړه اويه خير به يئ — ډيرو ډيرو سلامونه او دعاګانې —

خيراندیش

BEST COPY AVAILABLE

د وفا لقولنې درونه مشر باغلی پروفیسور امین صاحب !

په دې دریاوی ستاسی څخه هیله کوم ، دهغه خدمتونو لړۍ
چې د آزاد افغانستان د کلیوالو لپاره د افغانستان د ښوونې
او روزنې وزارت د ښوونې د کوچنیو برخه کې کړي دي . نه ستاسی څخه ډیره
ډیره فرهنګي خدمت هیله لرم چې زما د زیږدان خاطرات .
چې ما دیو کتاب په شکل راتول کړي دي چاپ کړئ او په
دې ترتیب یې ما احسان وکړئ په دریاوی

د اړوی محترم مدیر د خپرولو وړ کړي .

BEST COPY AVAILABLE

Selection F

(۷۸۶) نیټه: 7.11.91

د پاکستان بلوچستان څخه:

د امریکا غږ پښتو څانګې کرانو او محترمو نطاقانو
زما له لوري څخه ډیر زیات سلامونه او ښې هیلې قبولې کړي.
کرانو مارکونکو ستاسو د پښتو څانګې ټول پروګرامونه
همیشه اورم. او زیاته علاقه ورسره لرم.
خصوصاً د (راغلو لیکونو) او د (خوانانو دنیا)
پروګرامونه ډیر په خوند او پابندي سره اورم.
محترمو غږ یزانو له ډیر وخت وروسته یو ځل بیا
د امریکا غږ پښتو څانګې وه پروګرام تلیک لیږم.
هیله ده چه (د راغلو لیکونو) په پروګرام کښې ئې راته نشر کړي.
کرانو وروڼو د دغه کاغذ پر دوهمه مخ پابندي
نو شعر درته لیکلم هیله ده چه راته نشر به ئې کړي.
ستاسو د پروګرامونو رسالي شیډول
اوجنټۍ راواستوي.
زما پته:

بمعرفت
السید اډکمان ریلوي روډ
چمن بلوچستان ـ پاکستان.

BEST COPY AVAILABLE

Selection G

د امریکا غږ راډیو ټولو کارونکو ته ګډې ګډې سلامونه: —

وړاندې کوو هیله منډیم چې قبولې ګرې بیا زه ریناسې ټول پروګرامونه بس

په شوق سره اوس کوم استقادې نلرم ټول بس به یې ډوری پروګرامونه وی

او ځمونږ خوښ وی بیا ما تاسې نه د پروګرامونو څه پاتې غوښتې وی هغه —

هم ماته ناڅونه رسیدی زه د پرځغه شوم نو دری لیکې به رسیدو سره —

تاسې ماته د پروګرامونو څه پاتې او ریناسې عکسونه ماته ناولیږئ سره د

کومې مجلې نوډیپرې به موږ شځاکه ګرې ریناسې مهربانی به وی —

د شبقدر عظیم خان قلعه ز تحصیل د منډیګې نه —

عزیز الرحمن امانی کامرمال او عبید الرحمن امانی

د موږ به څه ناڅرې مکمله پته دا ده: ضلع چارسده - تحصیل او ډاکخانه

~~تحصیل~~ : شبقدر عظیم خان قلعه تحصیل منډیګې عزیز الرحمن

(2) دلوړ نمبر

BEST COPY AVAILABLE

Selection H

اتحاد اسلامی افغانستان

کمیته ( )

آمریت ( ) تاریخ / / ۱۴۰

مدیریت ( ) ضمیمه « » ورق

BEST COPY AVAILABLE

محترم ورور پوهاند نبزی صاحب ! تر هرڅه مخکې د روغتیا له خوا یې عوارض روبیا څیل ټاوده ستړی مونه درته ورانوی کوم
زه چې له شهید څخه لاهیل نه د زاغلم پاڼه موږ څه وخت سره یو ځای بیا تاسی ولاړ یاست زه پاڼه وم [یو څه عمری پاڼه کله د
اسدار د وکله د قانګی د آمر په حیث ډیلی او ورځې تېروله خو په دې ورو شنیو وخونو کې ګذاره یې هېره شخته سوه روپاڼه د
زوندانه پېژاندو ورځې یې د ربانډی وغمجنې لوی کور څخه کې د رودلاړی کرایه روڼتیا لو د مصارف ې سره برابر کړه
څخ د هندوستان زاړهی سوم - لوی پوهنتون د ټبر کال د فروري مخ په پیاښت کې زاغلم او تر څو شپږ ورځې د پاڼه ورته ناست یم
داچې د آینده کې څه ډیسپلین نه ده معلومه شناسی بدنځ هم کله کله اورم او ډوانی وخونه زاړه یادیږی . د پښتو سره ګډ مونه
د پرېوزړه پوهې د شناسی تیم هم سره ګډې ډې او کار زونه مونه تر وس الاندې راوشلی ډې سره معلوماتی او ګټورې
غږونې وخپلو او د ربړ ټولونکو ورانډی کوې شناسی سره ګډ مونه د وخوځلو نکو چې د منظم د ډول یې تقیښوی د ډله سره علمی ،
ادبی ، اجتماعی روښانی پوهې د شمیر لازښت کړې . شناسی د موفقیت د ډېرو پښتنو زمونه فوښالدې خدای دې
وکړی چې څیل پوه والله موبام وې او تر پایه پوری د ټاکلو او اتفاق سره د اکښتد غښتی سره مخ بانډی پوزې .
نور څوزه شل جوړیم ستړی شته کله کله سره د ښو څیني وخت د خصټیو سره ورځې هم سره یو ځای کیږو او د زړه خواله
سره کوو . زیاته نو نور د ردسر نه د رکوم خدای دې مل شه او خدای دې فوښالده - نور د ملګرو نه هم زما د ښې ډک
سلامونه او احترام ورسوه . په درناوي .

ستاسی ورور

JUNE 29.1991

BEST COPY AVAILABLE

Selection J

محترم مشر صاحب! السلام علیکم ورځ —

دې موده کې ښه لیک درلیږلو فرصت می ونلود
ـ خو یوځل زه کهالته یم او یوځه به کوټې کې ډوډۍ خوړو په وخت راباندې کوته شوې
ـ او رښتیا دې هم نه لرم دا ډاډ مې ګورم چې له هیڅ څخه اندیښنې دې!
پخوا به ښه وو د رسول امین او پښتونې له دفتر څخه به هوسنا شو حسینې
نشرات د کیسټونو په شکل ترلاسه کول
خو کله چې پښتونې په ټکلدین او رسول امین په کمیټۍ پورې نښتې دې
هلته هم نه یو تللی
ـ لوڅې ته کله کله مور به لیک یادوم ځکه چې خط نیم دیدن دې
زه هم راته وایي چې په کوټه کې جهاد پلوشه بیرته خپرونو ته اړه کړه
د دې کار لپاره په منډو لوخت یم که می داهیله پوره شوه نو بیا به انشاءالله
د مجلې په کار میا بولو کې ستا پرقلمي همکاري باندې اساسي حساب کوم،
بیداره اوسې.
په احترام

BEST COPY AVAILABLE

Selection K

بسم الله الرحمن الرحيم

WRITERS UNION OF
FREE AFGHANISTAN
P. O. Box 867
Peshawar University, Pakistan.
Phone: 42288, 40720 Telex :.....WUFA
Bank Acc. No. 1143 Habib Bank Ltd.
Jamrud Road, University Branch.

No :.....
Date :.....

دآزاد افغانستان دلیکوالو تولنه
وفا
پوسټ بکس، ۸۶۷، پېښور یونیورسټی، پاکستان.
تلیفون، ۴۲۲۸۸. تلګرام، وفا
بنک حساب، ۱۱۴۳
حبیب بنک جمرود روډ، یونیورسټی برانچ
نمبر،
تاریخ،

دازاد افغانستان دلیکوالو اتحادیی محترموغړوته !

د جون د میاشت په ۲۰ نیټه و .....

د موسسی هئیت د وفا دفتر ته راغی دادی تاسی ته اطلاع

درکړل شوه چی په تاکلی وخت اونیټه حاضر وی .

د وفا مشـــــر

پروفیسـر رسول امیـن

BEST COPY AVAILABLE

Selection L

بسم الله الرحمن الرحيم

WRITERS UNION OF FREE AFGHNISTAN
WUFA

د آزاد افغانستان ليکوالو ټولنه
وفا

تاريخ

پښتنهاد
استعلام

احکام
جواب

د هغو محترمو استادانو د پاملرنې وړ چې په وفا کې په دايمي توګه کار نه کوي او د وفا په ارتباط له کمشنري څخه د مياشتې دوه زره کلداوي حقوق اخلي .

د ټولو محترمو استادانو او همکارانو !

د افغان کمشنري د بيا بيا ټينګار له امله او په وفا کې ستاسو د مکلفيت په نظر کې ساتلو سره ، بايد د وفا اوخپلواکې له مجلو سره د مقالو همکاري وکړئ ترڅو مه ځايه چې ليدل کيږي موږ نشو کولاي چې کمشنري ته ستاسو د دغې قلمي همکاري په باب قناعت ورکړو ، اميد دي په دي برخه کې جدي پاملرنه وکړئ . د کمشنري حقوق يواځې او يواځې د ستاسو همدغه مکلفيت په ټرسره کولو سره تاسو ته درکول کيږي . که تاسو په راتلونکې مياشت کې خپل مکلفيت ټرسره نه کړئ بيا نو لطفاً د کمشنري د حقوقو له پاره تشريف مه راوړئ .

په درناوي

پروفيسور عبدالرسول امين
د وفا مشر

86

BEST COPY AVAILABLE